# شريعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان


پوهنې وزارت

## نجونې تر شپږم ټولګي پورې ښوونځي ته تللی شي

پوهنې وزارت په يوه مکتوب کې خپلو اړوندو پوهنيزو ادارو ته امر کړی چې په ځينو ولايتونو کې د نجونو ديني مدرسې او له شپږم ټولګي د ښکته ټولګي د نجونو زده کوونکو پرمخ د سيمه ييزو چارواکو له لوري تړل شوي ښوونځي بېرته بشپړ پرانيستل شي او له لومړي تر شپږم ټولګي زده کوونکي نجونې په ښوونځيو او ښوونيزو کورسونو کې زده کړې کولی شي. ياد مکتوب چې د صدور نېټه يې د مرغومي د مياشتې ۱۸ مه ښودل شوې د پوهنې د چارسمبالي حبيب الله اغا په لاسليک خپور شوی دی. د پوهنې وزارت دا مکتوب د باختر اژانس مشر عبدالله واحد ريان بي بي سي ته تاييد کړی دی. د پوهنې د سرپرست وزير د مکتوب له مخې، له شپږم ټولګي ښکته د زده کړو هغه ټولګي چې د موسسو لخوا تطبيقېږي او د پوهنې وزارت لخوا د فعاليت جواز لري، د هغوی ښځينه زده کوونکي خپلو زده کړو او ښځينه ښوونکې يې خپلو دندو ته د شرعي حجاب په مراعتولو دوام ورکولی شي


د تأسيس کال ۱۳۷۴ هـ.ش/ دوهم پړاو / (۱۱۸) ګڼه / سه‌شنبه ۱۷ جمادی الثانی ۱۴۴۴ هـ.ق/ ۲۰ جدی ۱۴۰۱ هـ.ش / ۱۰ جنوری ۲۰۲۳ ميلادي


عاليقدر امير المؤمنين

## له کجکي بند څخه دې ترينکوټ ته برېښنا ورسول شي



د افغانستان اسلامي امارت امير المؤمنين شيخ الحديث مولوي هبة الله آخندزاده حفظه الله د ترينکوټ سينديزې فرعي حوزې له رئيس مولوي وکيل احمد نقي او د روزګان د مرکز او ولسواليو ۲۱ سپين ږيرو او عالمانو سره په کتنه کې ويلي، چې د آغاجان بند جوړولو او له کجکي بند څخه ترينکوټ ته د برېښنا رسولو پروژو ته دې لومړيتوب ورکړل شي.

د باختر آژانس د خبر له مخې؛ په دغه کتنه کې د ترينکوټ سينديزې فرعي حوزې رئيس د اميرالمؤمنين حفظه الله سره په روزګان کې د برېښنا ستونزې، د کجکي برېښنا بند څخه روزګان ته د برېښنا رسولو، په ګيزاب او چهارچينو ولسواليو کې له هلمند سيند څخه د کانالونو... ۷مخ

## د پاکستان له زندانو څه باندې ۳۰۰ افغانان خوشې شول

شريعت: د پاکستان له زندانونو څخه د افغانانو د خلاصون لپاره د افغان حکومت د هڅو په دوام کې، دا ځل تر درې سوه ډېر کسان د پاکستان له زندانونو څخه آزاد او افغانستان ته ولېږل شول.

د بهرنيو چارو وزارت د ويې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي، چې اسلام آباد کې د افغانستان سفارت او کراچۍ کې د هېواد جنرال کونسلګرۍ د هلو ځلو په پايله کې د سيند ايالت د يو بل ښارګوټي... ۷مخ

گردشگران اسپانیایی

## امنیت و آرامش افغانستان را بسیاری از کشورهای جهان ندارد



شـريعت: دو گردشگر خارجی که تبعه اسپانیا هستند، در دیدار از ولسوالی منگجک جوزجان، گفتند «زیبایی افغانستان در فرهنگ اصیل و زندگی سنتی مردم آن است».

آنان می‌گویند که از دیدار مناظر طبیعی افغانستان و مردمان این کشور شگفت زده شده اند.

این گردشگران از مسؤولین امارت اسلامی اظهار خرسندی نموده، گفتند که کشورهای غربی، از وضعیت اجتماعی افغانستان تصویر وحشت، قتل و جنگ را در ذهن دارند، در حالیکه امنیت و آرامشی که در افغانستان است، در بسیاری کشورهای دنیا دیده نمی‌شود... ص۷

## کندهار کې د ۶۷ زره ډالرو په لګښت د يوه سړک جوړولو چارې پيل شوې

شريعت: د کندهار په مرکز کې د ۹۶۴ مترو په اوږدوالي د يوه سړک د رغولو چارې پيل شوې. د کندهار ښاروال حسن حاجي وويل، چې د دغه ولايت په اوله ناحيه کې ۹۶۴ متره سړک د ۶۷ زره امريکايي ډالر په لګښت په اساسي ډول جوړېږي. د يادونې وړ ده، چې په دغه پروژه کې به لسګونو کسانو ته د کار کولو زمينه هم برابره شي او خلکو ته لا زياتې اسانتياوې رامنځته کيږي.

## سرمقاله

## بهرنيو ديني علماؤ سره ليده کاته بې ګټې نه دي!

له تېرو څو ورځو راهيسې د مصر، سودان او فلسطين يو شمېر ديني علماء کابل کې د اسلامي امارت له ځينو مشرانو سره په ليدنو کتنو بوخت دي. په دې کې شک نشته چې په هره زمانه کې د اسلام د سپېڅلي دين د احيا او دعوت ستر رسالت په هر قوم او سيمه کې د علماؤ وظيفه ده او په دې لار کې يې همېشه خورا مهم خدمتونه تر سره کړي او انتهايي سختې قرباني يې هم ورکړې دي. د مګړۍ د افغانستان له اسلامي امارت سره د اسلامي نړۍ د ګوټ ګوټ ديني علمای او اسلامی نهضتونو اړيکې نيول او تر خپله وسه خواخوږي ښکارندول هم فقط يوازې پر همدې بنسټ مخ پروړاندې ځي. ځکه د نړۍ ګردو مسلمانانو خصوصاً دينی علماؤ ته د لمر په شان څرګنده ده چې افغانانو له تېرو څلورو لسيزو راهيسې د خپلواکۍ او اسلامي نظام د قيام په خاطر څومره بې سارې قربانۍ ورکړې او دادی آخر پای د يو داسې خپلواک ملي حاکميت پر جوړولو بريالي شوي چې په سر کې يې غټ شمېر با احساسه او دردمن علماء کرام شتون لري. مقصد دا چې د بهرنيو ديني علماؤ د اړيکو او خواخوږيو څرګند اساس همدا ټکی دی، خو په همدې ترڅ کې يو بل تر ټولو مهم ټکی دادی چې ياد بهرني علماء په داسې حال کې زموږ له مشرانو چارواکو علماؤ سره د ليدنې کتنې لپاره راځي چې افغان مېړنی ولس د ختيځ او لويديځ دواړو کفري نظامي بلاکونو له يرغله ستړي ستومانه نوی نوی را وتلی خو لا هم د هماغو يرغلګرو له سختو بنديزو او نړيوال پرېکون سره مخ او سخته بې وزلۍ کې شپې ورځې تېروي. مانا دا چې نن سبا زموږ نظام نوی، له ګڼو ستونزو سره لاس ګرېوان او د ګردې نړۍ خصوصاً اسلامي هېوادو اړيکوته بې حده زيات محتاج يو. له همدې کبله زياتره سياسي کار پوهان او د هېواد او ملت د بريا او نېمګرغۍ رښتيني خدمتګاران باوري دي چې په هر صورت اسلامي نړۍ سره د همدغسې ملاقاتونو له لارې د اړيکو يو ښه پل جوړېدلی او بايد له داسې مواقعو پوره پوره ګټه واخيستل شي. ځکه په داسې حال کې چې زموږ د نظام واکمني هم دعلماؤ په لاس کې او راتلونکي مېلمانه هم د ديني علماؤ په نامه وي، بيا نو هيڅ داسې کوم موجه دليل نشته چې هغوی سره ناسته ولاړه کې سستي وشي. په دې لړ کې يو شمېر نور شنونکي هم شديدې نيوکې لري، وايي د امارت مشران چې له هم مسلکه ديني علماؤ سره اړيکې سمې او تفاهم ته ونه رسيږي نورو سره... ۷مخ

## بازداشت یک گروه جنایتکار حرفه‌یی در خوست

شريعت: رياست عمومی استخبارات، یک گروه شش نفری جنایتکاران را بازداشت نموده است. این گروه جنایتکاران در بدل پول دست به قتل و کشتار انسان‌ها می‌زدند.



این گروه شش نفری، در پی یک عملیات ویژه از ولسوالی تنی خوست، بازداشت شدند.

ریاست استخبارات، در خبرنامه یی گفته است که افراد بازداشت شده، به جرم خود اعتراف کرده اند و تحقیقات بیشتر از آنان ادامه دارد.

د شريعت ورځپاڼې ځانګړې مرکه

## په تېر يوه کال کې څه د پاسه يو ميليون کډوال راستانه شوي

تقريباً ۴۳ کاله کيږي، چې افغانانو کډوالۍ ته متې را بډ وهلي دي، چې لا اوس هم دوام لري، کله چې شوروي اتحاد په افغانستان يرغل وکړ، په ميلونونه افغانان د خپل وطن پريښودو ته اړ شول او نورو ګاونډيو هيوادونو ته مهاجر شول، ورپسې يو څه داخلي جنګونو مهاجرت ته اړ کړل او په ۲۰۰۱م کال کې کله چې امريکا په افغانستان باندې يرغل وکړ، نو يوځل بيا يوه اندازه افغانان مهاجر شول، د څه وخت... ٦ مخ



## لغمان کې ۴ دولتي ودانۍ جوړيږي

شريعت: د لغمان ولايت په څلور ولسواليو کې د څلورو دولتي ودانيو د بنسټ ډبره کېښودل شوه. همدې موخه جوړو شويو مراسمو کې د لغمان والي قاري زين العابدين عابد وويل، چې يادې ودانۍ څلور خونې، يو پخلنځی او يوه نظارت خونه لري چې د استخباراتو... ۷مخ

## بلخ کې د ۵۰ میلیونو افغانيو په لګښت کانالونه رغول کيږي

شريعت: د بلخ ولايت په چاربولک ولسوالۍ کې د اوبو د څو کانالونو د رغولو چارې د C.H.A دفتر له لوري پيل شوې دي.

د چاربولک ولسوال مولوي اسدالله وفا د C.H.A دفتر له مسوولينو... ۷مخ



کمیتهٔ جمع‌آوری گداها

## تا کنون بیش از بیست و چهار هزار گدا از شهرکابل جمع‌آوری شده است

شریعت: کمیتهٔ جمع‌آوری گداها، از آغاز این برنامه تا هجدهم جدی سال جاری، بیست وچهار هزار و دو صد و هفتاد و شش گدا را از مناطق مختلف شهرکابل جمع آوری کرده است.

معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء با نشر خبرنامه‌یی گفته است، که از میان گداهای جمع‌آوری شده یازده هزار و شش صد و دو تن آن زنان استند که پس از ارزیابی چهار هزار و نه صد و هشتاد وهشت تن آنان مستحق و شش هزار و شش صد وچهارده تن دیگر شان گداهای حرفه‌یی شناسایی شده‌اند... ص۷

## واشنگتن پوست: شاروالی کابل با کم‌ترین امکانات، ظاهر شهر را تغییر داد

ص۶

## تثبیت صدها جریب زمین غصب شده در ولایت‌های سمنگان و کاپیسا

شریعت: هیئت تخنیکی واپس گیری زمین‌های غصب شده، در ادامه تلاش هایش چهار صد و نُه جریب زمین را در سمنگان و دو صدو و پانزده جریب زمین را که در کاپیسا غصب شده، تثبیت‌نمود.



وزارت عدلیه روز گذشته با نشر خبرنامه‌یی گفت، که هیئت واپس گیری زمین‌های غصب شده، چهار صد و نُه جریب زمین را در ساحات شورقل و چیمزی ولسوالی... ص۷

## د افغانيو د ارزښت ساتلو په موخه ۱۷ ميليونه ډالر ليلاميږي

شريعت: د افغانستان بانک، د افغانيو د ارزښت د لا پياوړتيا په موخه، د روان کال د مرغومي په ۲۱ مه، (۱۷) ميليونه ډالره د ليلام په ډول پلوري... ۷مخ



## افغاني سره مياشت د سوري زړه ۳۴ ماشومانو درملنه کوي

شريعت: افغاني سرې مياشتې د سوري زړه په ناروغۍ اخته ۳۴ ماشومان په پلازمېنه کې آريانا او فرانسويانو روغتونونو ته د درملنې په موخه ور وپېژندل.

افغاني سرې مياشتې ټولنې په خپله ټويټر پاڼه ليکلي، چې په تېرو څو مياشتو کې يې پلازمېنه... ۷مخ

## آغاز کار بازسازی سرک گرمسیر - ناوه در هلمند

شـريعت: کاربازسازی سرک گرمسير- ناوه ديروز از سوی رياست فوايد عامه هلمند آغاز گرديد.

این جاده، به درازای چهل ودوکیلومتر وعرض ده متر، از پل هزار جفت ولسوالی گرمسیر تا ولسوالی ناوه امتداد دارد.

هزینه‌ی بازسازی این جاده را، ریاست فواید عامه‌ی هلمند می پردازد.

با بازسازی این جاده، مشکل رفت وآمد مسافران و وسایط باربری دراین مسیر، حل خواهد شد.

## چگونگی ساخت «پارک شهر» در ناحیه سوم بررسی گردید

شـريعت: مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء با شماری از مسؤولان حکومتی چگونگی ساخت مکان تفریحی «پارک شهر» در ناحیه سوم شهر کابل و تانک تیل اعمار شده در جوار آن را بررسی نمود.

گفته شده است که این دو مکان به صورت غیر قانونی در پیاده رو و حریم دریای کابل، اعمار شده است.

دفتر مطبوعاتی ریاست الوزراء روز گذشته با نشر خبرنامه یی گفت: ... ص۷




## شاروالی کابل صدها هزار نهال و گل بته به خاطر سرسبزی، پرورش می دهد

به منظور شکوفایی و سرسبزی شهرکابل، چهار صد هزار اصله نهال و گل‌های فصلی در قوریه‌های ریاست سرسبزی شاروالی کابل، پرورش داده می‌شوند.

به گزارش آژانس باختر؛ یک مسوول ریاست سرسبزی شاروالی کابل، خاطرنشان کرد که از این نهال ها و گل بته ها در فصل نهال شانی در سرسبزی و شکوفایی شهر کابل، استفاده می شود.

وی افزود که این نهال ها شامل چنار، ناجو، دیوار بید وهمچنان گل های متنوع... ص۷




**سالمزی**

زما نظر دا دی چې جهاد یو غوره عمل دی او د نورو نیکو عملونو په پرتله داروښ د ګوپی په څیر لوړ دی نو پکار ده چې د دغه عمل سرته رسول هم پداسې طریقه ادا کړو چې د بشریت ستر لارښود نبی کریم صلی الله علیه وسلم یې مونږته لارښوونه کړې. که یو څوک د بیت الله شریف حج د پیغمبر له طریقې خلاف تر سره کړي دغه اسلامي فریضه یې هم ادا نشوه بلکې ولټه د عذاب او ګناه مرتکب هم شو. همدا رنګه که یو څوک بیت الخلاته د سنت طریقې مطابق ولاړ شي ضرورت هم رفع کړي او د ثواب مستحق هم ګرځي. د هر کار د زده کړې لپاره یو چوکاټ او یو ترتیب جوړ شوی وي که په هغه ترتیب او د هغه چوکاټ موافق خپل کارونه مخ ته یوسو نو کیدای شي پخپلو کارونو کې مخ ته ولاړ شو، د بیلګې په توګه زما صحت ښه ندی، ډاکټرته ورغلم، هغه ماته د ارام لپاره د نورې دوایې ترڅنګ ویلیم ۱۰ ګولۍ راکړې او دایې هم راته وویل چې د شپې لخوا نیمه ګولۍ استعمال کړه او لدې زیاتې ونه خوري چې د مرګ باعث کیږي او زه ټول پاکټ لس ګولۍ په یو وار وخورم او خپل ځان پخپل لاس د مرګ کومې ته وسپارم، ګناهکار څوک شو. همدارنګه زه یو آهنګر ته ورځم او هغه ته وایم چې زما دا غاښ را څخه وباسه او هغه دې ته مجبوروم چې د وسپنې لوی امبور را واخلي او زما د غاښ په ځای زما ژامه ماته کړي چې وروسته بیا هغه سرطان شي او د هغه سرطان له امله زه خپل ژوند له لاسه ورکړم، ګناهکار څوک دی، نو لازمه ده چې زه اول د غاښ ویسلو لپاره آهنګرته نه بلکې ډاکټر ته ورشم او د هغه په لارښوونو عمل وکړم، یا زه پخپل ژوند په بایسکل نه یم سپورشوی او یو دم د سپرلۍ ډک موټر ته کینم موټر او سپرلۍ دواړه د هلاکت کندې ته غورځوم، تاسي ووایاست مسؤل څوک دی، یا یوې طیارې ته پورته کیږم او په هوا کې د هغې کړکۍ خلاصوم چې پدې سره طیاره دومره هوا اخلي چې د طیارې د سقوط لامل کیږي مسؤل څوک ګڼې.

لکه چې پښتو متل دی په وچه لامبونه زه کیږی موږ به انشاألله ډیر ژر داسې شرایط برابر کړو چې نړۍ ورته حیرانه شی. زموږ هیواد یو ښکلی غرنی هیواد دی، د اسیایې هیواد ونود وصل مرکز او څلور لارې کې موقعیت لری چې په تیرو وختونو کې د اسیا د تاج اوزړه په القابو ملقب ؤ د خپل ستراتیژیک موقعیت په درلودلو سره د نړۍ د سترو زبرځواکونو د حملو هدف ګرځیدلی او افغان مؤمن او قهرمان ملت په لوی لاس د نورو پر مختللو هیوادنو سره د سیالۍ له کاروانه را ګرځول شوی اوس هم زموږ سیمه ییز او نړیوال دښمنان په ارام ندي ناست او زموږ د باتور ملت د پرمختګ په لار کې خنډونه او ستونزې زیږوي اونه غواړي چې زموږ ملت پرمختګ وکړي غواړي چې موږ ړانده وساتي چې نه خپل واک او نظام ولرو او نه له نورې نړۍ سره راشه درشه او مثبتې اړیکې ولرو او موږ دنیاته د یو وحشي او جاهل قوم په توګه وروپیژني خو الحمد الله موږ یو مؤمن غیرتي او اتل ملت یو څرنګه چې په تش لاس مودیوې پیړۍ په لړکې د نړۍ سترو فرعوني ځواکونوته ماته ورکړه، د علم په ډګر کې هم له هیچا څخه کم نه یو، موږ د خپل ملت په متین عزم او مستحکمه اراده باوري یو چې زموږ ځوان نسل به هم ډیر ژر د خپل علم او پوهې پرمټ نړیوالوته خپله پوهه او وړتیا ثابته کړی، زموږ هیواد له طبیعی زیر مو ډک هیواد دی موږ به د خپلې پوهې او استعداد په برکت دا ذخایر راسپړو او ګټه به ترې اخلو او د سیمه ییر او نړیوالو دښمنانو ناولې هیلې به له خاورو سره خاورې کیږي، موږ یو مستقل او آزاد هیواد یو او هیچاته د دې اجازه نه ورکوو چې زموږ په کورنیو چارو کې مداخله وکړی.

موږ مسلمانان یو او غواړو د اسلامي نظام تر چتر لاندې سرلوړی ژوند ولرو او د دې موخې لپاره مو په میلیونونو شهیدان ورکړي که زموږ د دغه هدف په لار کې هر څوک خنډور واقع کیږي موږ یې په وړاندې مقاومت کوو ترهغې چې نړیوال مو دیوه آزاد او مستقل هیواد په توګه په رسمیت وپیژني. لکه چې خوشحال خان خټک وایي:

آزادي تر پادشاهیه لا تیری کا!
چې د بل د حکم لاندې شي زندان شي
د یوه خپلواک سرلوړي او ودان افغانستان په هیله.

# نظام‌شهری و رعایت حقوق همسایگی

**اسفندیار**



از آنجایی که انسان‌ها موجودات اجتماعی استند همواره تلاش دارند تا در راستای زندگی سالم و با همی برخی قرار دادهای تدوینی و هنجاری را در اجتماع وضع و عملی کنند. تمام این تلاش‌ها فقط برای نظامند سازی زندگی جامعه بشری صورت گرفته تا از هرج و مرج دراجتماع جلوگیر کند. یکی از این هنجارها می‌تواند فرهنگ همسایه داری باشد. همسایه داری، یکی از مهم‌ترین بخش‌های زندگی اجتماعی به شمار می‌رود و در متون دینی نیز بر آن تاکید شده است. ضرورت این بحث بیشتر در کلان شهرها می‌تواند مورد تحلیل قرار گیرد و کابل نیز که یک شهر پر جمعیت و در عین حال فاقد ساخت و ساز معیاری است، می‌طلبد تا بحث همسایه داری بیشتر بین مردم تقویت شود. چون ساختار این شهر به‌گونه‌ای است که حویلی‌ها، ساختمان‌ها و خانه‌های مردم همه به یکدیگر وصل استند و با اندک‌ترین بی‌احتیاطی، همسایه‌ها آزار و اذیت می‌شوند. سروصدا کردن در داخل خانه، برآمدن در بالای بام‌ها، بی‌نظمی، انداختن زباله و برف در پیش دروازه همسایه، رفت‌وآمدهای غیرضروری، ایجاد مزاحمت در سر کوچه‌ها و میدانی‌ها که زنان و کودکان دررفت و آمد هستند، از مواردی است که باعث آزار و اذیت همسایه‌ها می‌شود. از طرف دیگر همه جوانان و نوجوانان به خاطر رخصتی‌ها در خانه‌هایشان حضور دارند و در طول روز، بالای بام‌هایشان برآمده کاغذ پران بازی می‌کنند یا سر راه مردم در کوچه‌ها و میدانی‌ها ایستاده می‌شوند، این مسئله سبب اذیت بیشتر همسایگان می‌گردد. همچنان خانواده‌های که در یک حویلی، یک دهلیز یا یک واحد ساختمانی زندگی می‌کنند، با صحبت تلفنی طولانی و با صدای بلند یا گوش دادن به تلویزیون به صدای بلند و باز و ضرورت بسته کردن زیاد دروازه‌ها، باعث آزار و اذیت همسایه‌هایشان می‌شوند. درمجموع بی‌توجهی نسبت به حقوق همسایگان، آزار و اذیت آنان، از یک‌سوزندگی را برای همسایه‌ها تلخ ساخته و حقوقشان را زیر پا می‌کنند و از طرف دیگر باعث به وجود آمدن کینه و کدورت‌ها می‌شود. به همین خاطر آگاهی شهروندان از حقوق همسایگانشان و ترویج آن در بین خانواده، اطفال و جوانان، یک مسئله بسیار مهم و حیاتی است و می‌تواند بسیار تأثیرگذار باشد.

ازنظر ارزش‌های دینی، قانونی و اخلاقی، احترام گذاشتن، تجسس نکردن، عدم آزار و اذیت همسایه، دوری از گمان‌های بد، کینه نداشتن نسبت به همسایه، دلجویی، کمک، آزار نرساندن، همکاری کردن، راهنمایی، روحیه دهی، تهمت نبستن، از حقوق یک همسایه بالای همسایه دیگر است. رعایت این نکات، باعث شکوفا شدن صلح، امنیت و همدلی در جامعه می‌شود و از بسیاری چالش‌های اجتماعی جلوگیری می‌کند. با این وجود می‌شود به برخی از مسئولیت‌ها و مکلفیت‌های که در تحکیم و تقویت روابط همسایه داری موثر واقع شود اشاره کرد؛

**کمک و همکاری:** یکی از مکلفیت‌ها و مسئولیت‌های همسایه داری، احوال گیری و کمک‌های مالی است. به‌خصوص در وضعیت فعلی احوال گیری از همسایه‌ها و همکاری‌های اقتصادی با آنان، بسیار مهم و حیاتی است. چون بیشتر مردم حتی محتاج غذای شب شان هستند و نیازمند کمک و همکاری می‌باشند. از اخلاق انسانی دور است که زن و بچه همسایه ما گرسنه بخوابد و به خاطر فقر و بیکاری در مشکلات باشد، ولی ما دستشان را نگیریم. پول قرض دادن، کم کردن کرایه منزل، احوال گیری، دلداری و روحیه دادن، از مهم‌ترین همکاری‌های ما با همسایگان به شمار می‌رود.

**درک تفاوت‌ها:** مسئله مهم دیگری که مردم باید در نظر داشته باشند، درک تفاوت‌های فرهنگی، اقتصادی و رسم و رواج‌های یکدیگر است. بر این اساس، نباید یک همسایه دیگری خودرا به خاطر رسم و رواج‌ها و روش زندگی متفاوت به تمسخر بگیرند و توهین کنند. باید قبول کنیم که هرکس در یک وضعیت اقتصادی، فرهنگی و علمی متفاوت‌تری قرار دارد و قابل‌احترام است. در یک ساختمان شاید یک خانواده ازنظر اقتصادی و سواد در مرتبه بالاتری قرار داشته باشد و همسایه دیگر در مرتبه پاین تری باشد.

**احترام به حریم خصوصی:** احترام گذاشتن به حریم خصوص همسایه بسیار مهم است و نباید وارد مسائل شخصی و فردی ایشان شویم. مسائل خانوادگی هرکس مربوط به خودش می‌شود و همسایه حق ندارد که دخالت کند. امنیت حریم خانه، داخل حویلی و اتاق‌های همسایه بسیار مهم است که نباید با تجسس ما ناامن گردد. شاید خانه، اتاق و حویلی همسایه‌ها در محل دید ما باشد و ما نباید گاه و بگاه در بام‌های خانه‌های خود به بهانه کوچک مانند کاغذ پران بازی بالا شویم و به خانه همسایه مزاحمت خلق کنیم.

**عدم آزار و اذیت همسایگان:** ایجاد آلودگی‌های محیط زیستی در پیش دروازه‌ها، جوی‌ها و رهروها، مصرف بی‌رویه آب مشترک، ایجاد آلودگی صوتی و هوایی، پراکنده کردن بوی و تعفن، بستن تهمت، صدا کردن به القاب و نام‌های زشت، به مسخره گرفتن، ایجاد اختلاف، سخن‌چینی، صحبت کردن زیاد با تلفن به صدای بلند، گشت‌وگذار بی‌مورد و ایستاده شدن سر راه همسایه‌ها، از موارد و مصادیق همسایه آزاری است که جداً باید از آنها پرهیز شود.

**برخورد نیک:** رویه نیک یکی دیگر از حقوق همسایه بالای همسایه دیگر است. در هنگام مواجه‌شدن با یکدیگر در داخل حویلی، راهروهای ساختمان‌ها یا داخل کوچه، باید برخورد خوب داشته باشیم. همیشه در تلاش روحیه دادن به همسایه و راهنمایی آنان باشیم نه سرزنش و در ستیز یک دیگر.

بناً باید گفت که همسایه داری و رعایت حقوق آنان، یکی از مسائل بسیار مهم و ضروری در زندگی شهروندان به خصوص باشنده های کابل به‌حساب میاید. با توجه به افزایش نفوس در شهر کابل، ساختار این شهر، حضور همگی در خانه‌ها و منازل‌شان، رعایت حقوق همسایگان بسیار مهم و ضروری است. هرگونه بی‌توجهی نسبت به حقوق همسایگان، باعث آزار و اذیت آنان شده وزندگی‌شان را محدود می‌سازد.

# د هر ډول بنسټیزو پروژو رغونه مثبت ګام دی

**شاه محمود درویش**

په هیواد کې د افغانستان اسلامي امارت په واکمن کیدو سره له شک پرته چې د امنیتي چاپیریال د رامنځته کیدو ترڅنګ د بنسټیزو پروژو پیل او بیارغونې ته هم پاملرنه زیاته شوې ده چې ښه بیلګه یې د هیواد په شمال کې د قوشتیپې کانال پیلیدل، په هلمند کې د کجکي بند د دویم فاز ګټې اخیستنې ته سپارل د کابل- قندهار لویې لارې بیارغونه او داسې نورې سترې پروژې دي چې چارې یې په چټکۍ سره روانې دي. البته د بنسټیزو او رغنیزو پروژو د چارو د څارنې او ارزونې په موخه څه موده وړاندې د ریاست الوزرا اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر آخوند نیمروز ته په سفر تللی وو، نوموړي له کمال خان بند څخه د لیدنې پر مهال، دغه پروژه یو ملي او حیاتي پروژه بللې او د پروژې د مسؤلینو د ترسره شویو چارو د ستاینې ترڅنګ د کارونو د لا ښه والي په خاطر یې هغوئ ته ځینې سپارښتنې هم کړې دي. د کمال خان بند دهیواد په کچه له لویو بندونو څخه شمیرل کیږي چې د نیمروز په چهار برجک ولسوالی کې د هلمند پر سیند د موسمي سیلابونو، کرنیزو ځمکو د خړوبولو او د بریښنا د تولید په موخه جوړ شوی دی. هغه کرنیزې ځمکې چې له کمال خان بند څخه خړوبیږي، مساحت یې ۱۷۴ زره هکتارو ته رسیږي. دغه بند د کرنیوز ځمکو د سمسورتیا تر څنګ د چاپیریال خوندي ساتلو او روان ریګ د کنټرول په برخه کې هم ګټور دي. دنظر دخاوندانو په وینا د کمال خان بند ۱۸٤ زره هکتاره ځمکه خړوبوي، لږ ترلږه ۹ میګاواټه بریښنا هم تولیدوي اود ۵۲ میلیون متر مکعب اوبو دزیرمه کولو وړتیا لري. البته د کمال خان بند کارونه څو لسیزې وړاندې د محمد داوود خان د واکمنې په وخت پیل شول، خو تر اوسه یې چارې په بشپړ ډول نه دې ترسره شوې. په ورته مهال د افغانستان اسلامي امارت په پلان کې لري چې په نږدې راتلونکې کې د دغې ملي پروژې پاتې چارې بشپړې کړي.

بناً دې ټکي ته مو باید پام وي چې د کمال خان بند د اوبو د زیرمه کولو، د سرحدي او ګرمو ولایتونو د بریښنا د تولید، د کرنې لپاره د اوبو د برابرولو، د سیمه ییز اقتصاد د ودې او پیاوړتیا او د هیواد د ثبات د ټینګښت په برخو کې هم اغیزمن دی. البته د دغه بند په جوړیدو سره د بریښنا پر تولید سربیره خلکو ته د سولې او آرامۍ د فضا او د ښار په ښکلا کې د پام وړ اغیزه لري، دغه بند د کارموندنې او بزګرانو د کاري پرمختګ په برخه کې هم ګټور دی او په هیواد کې د وچکالۍ په مخنیوي او د اوبو کنترول په برخه کې هم مثبت رول لري. انشاالله وروسته له دې د افغانستان اسلامي امارت له لوری به په ټوله کې د هیواد د اوبو د ښه مدیریت لپاره لا ډیر کار کیږي ترڅو زمونږ اوبه په هیواد کې دننه زمونږ خپلې پراخې دښتې خړوبې، شاړې میرې سمسور او زرغونې کړي او هم په هیواد کې دننه زمونږ بریښنایي اړتیاوې پای ته ورسیږي، البته دافغانستان په شان وچې کې ایسار هیواد ته چې ډیرې خوړې او به یې بهرته بهیږي دا ښایي د اقتصادي ودې لپاره هم یو ښه زیری اوسي خو خلک په ټوله کې د هیواد په کچه دبندونو دډیریدو تمه لري، له شک پرته چې د افغانستان د اسلامی امارت له خوا دهیواد په بیلابیلو برخو کې د ډول ډول پروژو د تطبیق ترڅنګ د بریښنا د بندونو د جوړولو، رغولو او هم په بندونو کې د اوبو ذخیره کولو ته تر یوحده پام ور اوښتی دی چې دا اقدام واقعاً ورځ تر بلې هیواد د اقتصادي ځان بسیاینې پر لور بیایي.

ټکي ته مو باید پام وي چې افغانستان د خپلو سترو طبیعي سرچینو که هغه کاني زیرمي یا هم اوبه دي، نو د سم مدیریت په برکت کولای شی په راتلونکو څو کلونو کې پرنسبتاً متوسط سوکاله هیواد بدل شی او باید هم دغه هدف ترلاسه کړی او پر خپلو پښو ودریږی، ځکه د پردیو په مرستو ډډه لګول تیروتنه ده او د ټولو هیوادپالو افغانانو اساسی هدف باید د نورو له احتیاجه راوتل وی، او داهم واقعیت دی چې اوبه زمونږه عزت او ددغه عزت ساتل زمونږ ملی هدف دی، بناً په هیواد کې د اوبو او هم د بریښنا دبندونو جوړول او رغاول اوله هغې څخه د استفادی په موخه د هر ډول ټولګټو پروژو تطبیق هغه څه دی چې له یوی خوا په کور دننه مو ګڼ شمیر اړتیاوې پوره کوي، ددی ترڅنګ د ښه مدیریت په لړکې کولای شو چې دهیواد موجوده اوبه د اقتصادي ځان بسیاینې لپاره په غوره توګه وکاروو نو دمګړی واقعاً چې داوبو او بریښنا د بندونو د جوړولو او رغاولو او هم په نورو ټولګټو پروژو د کارد پیل کیدو په برخه کې د افغانستان اسلامي امارت هڅی دقدر وړ دی، پاک الله (ج) دی دوئ ته لا هم ددی توان، توفیق او همت ورکړي چې په ټول هیواد کې د ډول ډول سترو ملې پروژو په تطبیق سره د هیواد او هیوادوالو اقتصاد پیاوړی، ستونزې یې حل، ملي وحدت لا کلک او تلپاتې هوساینه یې په برخه کړي. له شک پرته چې په بنسټیزو پروژو پانګونه کولی شي دهیواد اقتصادي بنسټونوته ورځ تربلې او په تدریج سره یعنې په لنډمهال، منځ مهال اواوږدمهال کې وده ورکړي اوافغان ولس له ګڼ شمیرستونزو څخه وژغوري چې دا واقعا دسیمې اونړۍ له هیوادونوسره دهراړخیزو انسان دوستانه اړیکو، همکاریو او سیاسي تعاملاتو په ټینګښت کې شونی دی.

# د پخواني رژيم پېښې مه کوئ!

ابو عمر

افغان ولس شل کاله د صليبيانو او د هغوی د نوکرانو هر ډول ظلمونه او وحشتونه وګالل، دلته د فرعونيت دربار ؤ، کبر او جبر انتها ته رسېدلی ؤ، ولس هيڅ حقوق نه درلودل، عامو خلکو ته د انسانيت په سترګه نه کتل کېدل، دولتي اشخاصو به چې هر څه کول، ملامتي پرې نه وه. قانون د غني د جال په څېر ؤ، چې غريب او بې وسه به پکې نښته، خو شتمن، واکمن، چارواکي او زورواکي به ترې وتل.

د هر افغان زړه د ظلم او جبر له دغسې سلګونو خاطرو ډک دی او هيڅ افغان له تېر رژيمه ښه خاطره نه لري، حتی هغوی چې د تېر رژيم ملاتړ يې کاوه، يا يې عملاً کار پکې کاوه، هغوی هم په دې هر څه اعتراف کوي. ځکه چې انسان ته الله تعالی د عزت او شرف يو ځانګړی مقام ورکړی، نو څوک چې هغه مقام ترې اخلي او د ذلت، کبر او غلامي چلند ورسره کوي، حتماً ډېر سخت پرې تمامېږي.

اوس چې افغان ولس تازه له دغو وحشتونو، کبرونو او ظلمونو راوتلی، لا يې د آرام ساه نه ده اخيستې، چې د نوي نظام د بې عدالتيو کيسې هم شروع شوې. مثلاً ځينو ادارو کې له رشوت او واسطو څخه شکايتونه کيږي، ځينو کې د خپلوۍ او ملګرتيا پر اساس ټاکنې کيږي، ځينې مجاهدين او مسؤلين پر غلط لاس پر سړکونو موټر چلوي، ځينې يې پر خپل لاس روان وي، خو ډېر ګرندي ځغلي او پرلپسې هارنډونه کوي، ځينې مجاهدين له دولتي موټرو او امکاناتو شخصي استفاده کوي، ځينې ځايونو کې له عام ولس او مراجعينو سره تنده رويه کيږي، ځينې مسؤلينو کې کبر پيدا شوی، اوس له خپلو ملګرو سره هم هماغه شان ملګرتيا نه پالي، حتی د سلام واجب ځواب نه ورکوي، همداراز؛ د احترام په نوم چاپلوسي کيږي، چې دغه چلند ورو ورو مسؤلينو کې د کبر پيدا کېدو باعث ګرځي.

که توجه ونه شي، همدغه کړنې د هماغو وحشتونو، ظلمونو او کبرونو پر پيلامه بدليږي، نو همدغه لومړي سر کې بايد دا هر څه کنټرول شي او هيچا ته اجازه ورنه کړل شي چې يا قانون نقض کړي او يا له ولس سره د بادار او غلام رويه وکړي. ځکه چې همدغه چارې د نظام او ولس تر منځ د واټن لامل کيږي.

کله چې ولس خپل حاکمان په داسې بڼه ويني، چې د ژوند سطحه يې له دوی څخه اوچته وي، ولس سره بده رويه وکړي، ځان پر ولس پورته وګڼي، د ولس ستونزو ته رسيدګي ونه کړي او په مجموع کې ولس په زحمت او دوی په راحت کې وي، نو په دې صورت کې حتماً ولس له نظام سره واټن پيدا کوي او دا واټن ورو ورو پراخيږي، تر دې چې ولس به دغه نظام خپل نظام نه ګڼي، بيا نو دښمن په ډېره اسانۍ کولی شي چې دغه ځورېدلی ولس د خپل نظام پر ضد راوپاروي.

خو که ولس سره داسې چلند وشي، چې هغوی خپل نظام او حاکمان د خپلو خادمانو په توګه ويني، په هره برخه کې له ولس سره ښه چلند وکړي، د ولس ستونزې حل کړي او ټول حقوق يې رعايت شي، نو بيا ولس دغه نظام خپل نظام ګڼي، بيا يې په هره برخه کې مرسته او د سر په بدل کې دفاع کوي.

ولسي مشروعيت د هر نظام د بقا لپاره اساسي شرط دی، د ولس له ملاتړ پرته هيڅ نظام دوام نه شي موندلی، ولس چې خفه شي، حتماً د نظام پر ضد راپورته کيږي. دا حقيقت موږ ټولو پر خپلو سترګو ليدلی، کمونستانو او بيا تر هغوی وروسته د صليبي يرغلګرو نوکرانو په ولس کې محبوبيت او ملاتړ نه درلود، نو همدغه ولس پسې راپورته شو، تر دې چې رژيمونه يې نسکور شول. تېر رژيم د انتخاباتو په نوم ډېرې ډرامې تر سره کړې، خو ولسي ملاتړ يې نه درلود، بل خوا طالبانو ټوله نړۍ کې دوست نه درلود، خو د همدې ولسي ملاتړ په زور يې بالآخره هماغه کبرجن رژيم نسکور او پر ټول هېواد واکمن شول. دغه راز؛ په ترکيه کې خلک راووتل، ټانګونو ته يې سرونه کېښودل خو د يوې لويې کودتا مخه يې ونيوله، ځکه چې ولس له حکومت څخه خوښ ؤ، خو په نورو هېوادونو کې ولس د نظام پر ضد جنګيږي او خپل نظامونه نسکوروي.

نو دا توپير په ولس کې نه دی، توپير په نظامونو کې وي، هغه نظام چې د ولس ستونزې حل کوي او حقوق يې رعايت کوي، هغه به دوام کوي. خو کوم نظام چې د خپل ولس ستونزو ته رسيدګي نه کوي، له خپل ملت سره د بادار او غلام رويه کوي او ځان له ولسه پورته ګڼي، هغه نظام حتماً نسکوريږي.

نو د نظام د جوړېدو موخه دا ده، چې د ولس مشکلات حل کړي، ستونزې يې واوري، سهولتونه ورته رامنځ ته کړي او خدمت يې وکړي، يعنې د نظام او ولس اړيکه بايد داسې وي چې مسؤلين د خلکو خادمان وي، نه باداران.

خدای دې زموږ مسؤلينو او مأمورينو ته هم توفيق ورکړي، چې د خپل ځورېدلي ولس ټول حقوق په ښه توګه رعايت کړي او دښمن ته دا فرصت په لاس ورنه کړي، چې زموږ خپل ملت زموږ د نظام پر خلاف راوپاروي.

# ارزښتونه او ملي دوديز روايتونه د غرب اصطلاحاتي ابزار!!

جبريل سعد

دا چې زموږ پر وړاندې د نورو غربي تش پر نوم بشري سازمانونو په څېر ځپل شوی صليبي ائتلاف هم له اسلامي ترهګرۍ !! د بشريت ژغورلو سياسي او جګړه ييز سازمان تر سرليك لاندې و او پکې د دندې له مخې او د شاهي کورنۍ د غړي په توګه يې «هري» د مخکښ رول څښتن ګڼل شوی؛ د «هري» وروستی مجرمانه اعتراف د ملګرو لعنتونو پر ګډون ټول سازمانونه پر خپله واقعي څېره را پېژني او ښيي چې د بيان او مېرمنو د ازادۍ او حقوقو او نورې وهلې چيغې او نغارې يې هم هر وخت زموږ لپاره داسې پېغوريز عواقب لرلای شي او بيا يې پر وړاندې له ټيټو سترګو نيولو يا لږ تر لږه بې وسه غوغاوو پرته څه هم نشو کولای، ښه به وي اوس لا چې وخت د چارې دی؛ پر وړاندې يې د اسلامي امارت له پاليسيو ملاتړ وکړو او ويې ستايو. د يو بنسټيز ارزښت په توګه بشريت، د بشري بېلابېلو ټولنو ارزښتونه او روايتونه او په ځانګړي ډول د اسلام او اسلامي کلتور په ارزښتونو او د مسلمانو ملتونو په ملي دوديزو رواياتو کې د لاسوهنې، د هغو د بدرنګه او پيکه کولو او بالآخره يې د اسلام له آدرسه او مسلمانانو له لاسه ايستلو او د بشريت-اسلام-اسلامي کلتور په توګه له منځه وړلو په موخه غرب زموږ د ټولو ديني او کلتوري ارزښتونو او ملي دوديزو روايتونو تر بېلابېلو سرليکونو لاندې د ملګرو ملتونو په ګډون ګڼ سازمانونه او ستراتېژۍ رامنځته کړې چې له استقامته يې نورو ټولو ته د يوې مستقيمې پرانيستې لارې په توګه لومړی د اسلام او يوې مسلماني ټولنې تضمين او خوندي کړي انساني کرامت او بشريت-بشري خواخوږۍ له ارزښت او روايته د ابزاري اصطلاح استفاده کوي او بيا يې ورته پر لاس جوړېدو له پاتې ارزښتونو او روايتونو هم همداسې د اصطلاحاتي ابزارو ګټه اخلي. موخې يې بيا هم هماغه ټاکلې بشر ضد او ښکاره ابزاري سرليك چې غرب يې د خپلو سازمانونو، پروژو او پاليسيو لپاره کاروي؛ سرچپه او تر ډېره يواځې د طراحانو ترمنځ د راز په توګه شريکې وي. خو که لېږ هم يې کړو ورو، د فعاليتونو څرنګوالي او اړوندو ځمکنيو واقعيتونو ته ځير شو؛ پر اسانۍ يې دغه موخې بشپړې درك او په اړه يې پرېکړه کولای شو.

زموږ د يو اسلامي او ملي ارزښت او روايت چې موږ ته لومړيتوب او لرغونتوب ولري؛ پر وړاندې غرب د سازمان، ستراتېژۍ او پرېکړې له لارې د بل داسې ارزښت او روايت سرليك کاروي چې د لومړيتوبونو لړۍ په دوهمه او دريمه رتبه کې وي او ياهم هيڅ، خو هغه يې خپل لومړيتوب او موخې ته پرې د رسېدو لپاره را مخکې کوي، ترڅو د ولس عام پام له خپل لومړيتوب او هم په دې مورد د غرب له پټو ضد لومړيتوبونو پرې پر بل خوا واړوي. د مېرمنو د پردې د حکم پر وړاندې او په دې وروستيو کې يې بياهم د زده کړو حق او فرضيت، له نارينه روغتياپالانو د ښځمنو ناروغانو پردې، ترڅنګ يې د ښځمنو روغتيا پالانو نه شتون او داسې نورو پر پلمه د ګډو کړيو غوغاوو واقعي موخه د زده کړو له جريان سره په بېلابېلو مواردو کې د مېرمنو د عفت او حياء ساتنې له حق او فرضيت، ورته د زده کړو سالم چاپېريال رامنځته کولو له فرضيت او لومړيتوب، د ښوونيز نصاب او درسي مضمونونو د سمونې له ارزښت او فرضيت، د اختلاط له منځه وړنې او شرعي پردې ته د التزام لرلو له فرضيت او روايت او د ميرمنو د ښوونيز او روزنيز چاپېريال بشپړ د خپل کور په څېر محرم ګرځولو له کلتور او فرضيت څخه يواځې هماغو پلمو ته د عام پام اړولو او پر هغو مصروف او متمرکز ساتلو هڅه وه چې په ضمن کې يې نادولتي ادارو کې او په ځينې نورو پلمو لاسته ورغليو مېرمنو، ورپورې غوټه شومو موخو او داسې نورو ټکو مخ ته چې غرب يې په اړه د اسلامي امارت او افغان غيور ولس د لومړيتوبونو لړۍ له ور رسېدو اندېښنه او وېره لري؛ له همدې موضوع د سپر او ډال په توګه استفاده هم لرله، خو له ښې مرغې سمدستي ورپسې په غير دولتي ادارو کې د مېرمنو پر کار د اسلامي امارت په بنديز سره غربي غوغاګره نړۍ او ورته لاس په کار کړۍ يې تر خوږ ګوته ونيول شوې او پر خپل دغه غم اخته کېدو يې د مېرمنو هماغه فرض زده کړې او اړوند ابزاري سرليکونه چې پرون يې پر پلمه غوغاوې راولاړولې او بدرګه کولې؛ نن يې آن هغه هرڅه له ياده وتلي.

دا يوه تازه بېلګه وه. بشريت او بشري خواخوږي چې د مسلمانو ملتونو او کفري واحد ملت ګډ ارزښتونه، د ټولو لپاره سپېڅلي سرليکونه او واحد مشترك دی؛ هم ترې د تاريخ په اوږدو کې همداسې د مسلمانو او کفري دواړو ملتونو پر وړاندې ابزاري ګټه پورته شوې، لکه چې د مسلمانو ملتونو پر وړاندې ترې د ګټې اخيستنې يادونه وشوه او د کفر او اسلام تر منځ ستر توپير، واټن او پوله د همدې بشر-بشريت پر پلمه له منځه وړل کېږي؛ همداسې د کفري ملتونو پر وړاندې ترې د ګټې اخيستنې بېلګې هم شته. د اصطلاحاتو په صنعت کې له همدې بشريته د تبليغاتو پر زور ابزاري سرليك جوړ او پر ګران هېواد مو د يرغل نړيوال صليبي اشر را منځته شو، کفري ملتونو ته داسې تبليغ شوه چې دلته اسلامي نظام د ترهګرۍ يو لوی بشري ناورين چې بشپړ منځنی ختيځ او بيا د شوروي په څېر پل پر پل وړاندې ټوله نړۍ ګواښي؛ له ځان سره لري، نو پر وړانـدې دې هغوی ائتلاف رامنځته او د بشري خواخوږۍ له مخې دې له افغانانو !!(شمال ټلوالې، کورنيو مخالفينو او پر ډالرو پېرل شويو څېرو)سره ودرېږي، همغه و چې د همدې بشري خواخوږۍ پر مدار او تر همدغه سرليك لاندې د وخت واکمنو پر مشرۍ کفري ملتونو طوعاً او کرهاً له خپلو بچيانو جوړ کړی ائتلاف زموږ پر ګران هېواد را مارش کړ او دلته ترې لس ګونه زره ککړې د بلا خولې ته ولوېدې او خاورې شوې، خو ډېر ناوخت يې د بشري خواخوږۍ د ارزښت دغه سرليك ناسمي درك کړه او ياد سرليك د بشري خواخوږۍ ښونکی احساس سره د تبليغاتو پر مټ د ابزاري ګټې اخيستنې ښکار وخوت او بايللې ککړې د دوی په فکر له ورپکې احساس سره دغې ابزاري اصطلاح او استفادې وخوړې.

اوس نو که د برتانيې د شاهي کورنۍ د غړي په توګه «هري» پر دې حقيقت اعتراف لري چې د بشريت او بشري خواخوږۍ تر سرليك لاندې افغانستان ته راتګ وړاندې لا د کفري ملتونو دغو ائتلافي بچو ته روزنه ور کول کېده چې افغانانو ته د بشر په سترګه ونه ګوري، ترڅو پرې د انساني عاطفې او احساس پر غلبې يې پر افغانانو بشري خواخوږي را نشي، بلکې يواځې ترې د سرليك ابزاري ګټه پورته او بيا همداسې شوي هم دي؛ نو دا به هم لا مخکې ترې مني چې د يو رښتوني واقعيت په توګه دغه روزلې او بيا بايللې لسګونه زره ککړې يې د شطرنج تر دانو هم بې ارزښته وې چې پر افغانانو له بشري خواخوږۍ د ډډې کولو ور کړل شوې روزنې سربېره بياهم له افغانانو سره د بشري خواخوږۍ په ابزاري اصطلاح ترې استفاده وشوه، په افغانستان کې خاورې شوې او چېرته چې افغانانو رغړولې؛ همله د مستعمل نسوار د ګيټۍ په څېر د لعنت پر لاړو خيشتې او بد بويه پاتې شوې، نو د بشريت-بشري خواخوږۍ له سرليکه د کفري او مسلمانو ملتونو دواړو خواوو ته هممهاله د اصطلاحي ابزار په توګه ګټه پورته شوه، خو په دومره توپير چې يادې ککړې د روزنې له لارې د بشريت او بشري خواخوږۍ له احساسه لا مخکې تشې دې او افغانانو ته بيا د تبليغاتو پر مټ بشپړ سرچپه د دغه اصطلاحي سرليك احساس په ماغزو کې ورکول کېده او بيا يې ورپورې سرونه له تنه وړل کېدل چې غربيان يې اوس له وخته ډېر وروسته پر دغه واقعيت پر وياړ مجرمانه اعتراف کوي او که موږ يې ترې اخلو؛ د غرب پر وړاندې او د خپل راتلونکي لپاره ډېر درسونه پکې نغښتي دي.

# داسي غل مو تر أوسه ليدلی؟!

عبدالله افغان

**دا نو تاريخي غل و.**

د انطاکيې قاضي په شپه کې و خپل کښت، زراعت ته د تللو اراده وکړه، کله چې تر ښار ووت غل وربانـدې پيښ سو، غل ورته وويل چې څه درسره دي ټوله کښېږده که نوي خير دې نسته.

قاضي ورته وويل: الله تعالی دې له بلې خوا درکړي، زه عالم يم قاضي يم اهل علم مصئونيت او حرمت لري، ما پرېږده.

غل ورته وويل: دا خو ډېره ښه سوه زه ډاډه يم چي کوم شی درڅخه واخلم ته يې په اسانۍ سره پيدا کولای شي، ستا نه بغير بل څوک کيدای سي ضعيف الحال وي، فقير وي، هيڅ شی به نلري، او ته ډېر ښه يې، جيب دې ژر ډکيږي.

قاضي ورته وويل: حديث شريف کي راغلي دي « الدين دين الله، والعباد عباد الله، والسنة سنتي، فمن ابتدع فعليه لعنة الله »

لارې نيول هم بدعت دی، زه پر تا بيريږم چي ددې حديث لاندي رانشي او د لعنت مستحق نسې.

غل ورته وويل: چي دا « مرسل حديث » دی، د نافع څخه ندی روايت سوی، او نه هم د عبدالله بن عمر څخه روايت سوی، بيا که چيري فرضا درسره ومنم چي دا حديث صحيح دی نو ته د هغه غل په باره کي څه وايي چي دومره نلري چي قوت يي سي، د کورنۍ ژوند يي له خطر سره مخ وي؟ د عبدالله بن عمر څخه روايت ثابت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل « لو کانت الدنيا دما عبيطا لكان قوت اليوم للمؤمنين منها حلالا » او علماؤ اجماع کړې ده چي انسان ته دا روا ده چي خپل او د خپل عيال د ژوند ژغورلو لپاره د بل له مال څخه خوراک وکړي، او زه په الله قسم کوم چي خپل او د عيال ژوند مي له خطر سره مخ دی، نو کوم څه چي درسره دي را وې باسه، ماته حلال دي، په سلامتۍ سره ولاړسه.

قاضي ورته وويل: چي ستا دغه حال دی نو ما پرېږده چي خپل کښت ته ولاړسم او له خپلو خادمانو څخه کالي او لباس واخلم تر څو چي خپل عورت په پټ کړم او خپل کالې د ټولو نقدو روپو سره تاته درکړم.

غل ورته وويل: چي هيڅکله داسي نشي کيدای، ته داسي يې لکه مرغه چي په قفص کي وي چي کله هوا ته ولاړ نو له لاسه ووت.

قاضي ورته وويل: چي په الله قسم درته کوم چي وعده درسره پوره کوم.

غل ورته وويل: چي ماته نافع له ابن عمر څخه او هغه له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه دا حديث روايت کړی دی چي « د زور او اجبار په قسم باندي وفاء کول لازم ندي» هله تلوار وکه چي څه درسره دي ټول را وباسه.

قاضي خپل آس او جامه ورکړه خو پرتوګ يي ور نکړ.

غل ورته وويل: چي پرتوګ هم راوباسه زه ډېر ضرورت ورته لرم.

قاضي ورته وويل: د لمانځه وقت را نږدې دی، د لوڅ لمونځ نه صحيح نکيږي، حديث کي راځي چي « لاصلاة لعريان » د لوڅ لمونځ نکيږي، او الله جل جلاله فرمايلي دي « خذوا زينتكم عند كل مسجد» د زينت څخه مراد د عورت پټ والی دی د لمانځه په وخت کي.

غل ورته وويل: چي لمونځ خو دې صحيح دی، ما ته نافع حديث روايت کړی دی چي لوڅ دي خپل لمونځ وکړي خو رکوع او سجده دي نکوي، امام ابوحنيفه رحمه الله فرمايي چي لوڅ خلک دي لمونځ په ناسته وکړي، او کوم حديث چي تا روايت کړ هغه « مرسل حديث» دی، او که درسره ومنم چي صحيح دی خو ورڅخه مراد حالت د مجبوريت ندی او ته مجبور يي، ته د حديث لاندي نه راځې.

قاضي ورته وويل: قاضي هم ته يي، مفتي هم ته يي، فقيه هم ته يي، واخله ټوله واخله.

المصدر: كتاب الاذكياء لابن الجوزي.

که مو لوستي وي (اضحك الله سنك)

دعاء راته ډالۍ کړئ

# د باطل پېژندنې ضرورت!

حسان مجاهد

څومره چې په دين کې حق پېژندنه مهم او اساسي کار بلل شوی دی، دا شان باطل پېژندنه يعني دباطلو اديانو، نظرياتو او منحرفو ډلو پېژندنه هم اساسي کار او دمسلمان داعي سپېڅلې دنده بلل شوې ده؛ ځکه تر څو چې مسلمانانو دخپلو دښمنانو نظريات، عقائد او موخې نه وي پېژندلې؛ په وړاندې يې نه مناسب دريځ نيولای شي او نه ورسره مناسب تعامل کولای شي.

که په عموم کې داسلام مفاهيمو ته وکتل شي؛ نو محوري ټکي په کې دوه ښکاري؛ لومړی دعقائدو، عباداتو، معاملاتو او دژوند په نورو انفرادي، اجتماعي او سياسي برخو کې دخير پېژندنه او دوهم ټکی په دې ټولو مجالاتو کې دشر پېژندنه، تر څو دخير دعملي کولو ترڅنګ له شر څخه لومړی ځان او بيا نور وګړي وژغورل شي او په خلاف يې مبارزه وشي.

قرآنکريم لکه څنګه چې مسلمانانو ته د(ولاء) يعني له اسلام او مسلمانانو سره ددوستۍ عقيدې تعليم ورکوي، داشان ورته د(براء)يعني له کفر او کفارو څخه دبيزارۍ عقيدې لارښوونه هم کوي.

دقرآنکريم نيمه برخه په ايمانياتو راڅرخي خو پاتې نوره نيمه برخه يې بيا دباطل او ګمراهيو په بيان راڅرخي.

په قرآنکريم کې لکه څنګه چې ايمان او دايمان تقاضاوې ذکر شوې دي؛ دارنګه ورسره په څنګ کې کفر، نفاق، دکفارو شبهې او داسلام په خلاف پټې دسيسې هم يادې شوې دي.

الله تعالی رسول الله ﷺ ته هم، دخپلې زماني ديهودو، نصاراوو، مجوسو، مشرکينو، منافقينو او صابئينو ذکر کړی دی او هم يې ورته دتيرو پيغمبرانو لکه دلوط، نوح او موسی (عليهم السلام) د ګمرا قومونو کيسې کړې دي.

ويل کېږي «اعرف الشر لتوقيه، من لم يعرف الشر يقع فيه»ژباړه: شر مې ددې لپاره وپېژندل چې پکې راګير نه شم؛ ځکه څوک چې شرو نه پيژني؛ هغه په شر کې راګيرېږي.

امام غزالي رح چې فلسفه ماته کړه، ديني علم يې ژوندی کړ او دفلاسفوو بې اتفاقۍ يې وښوده دا ټول له هغه وروسته چې لومړی يې فلسفه وويله.

داشان امام ابن تيميه رح په اهل باطلو او منحرفو ډلو هغه مهال ردونه وکړل چې ددوي عقايد يې ټول په دقيقه توګه مطالعه او وويل حتی چې يهوديت او مسيحيت يې هم وويل له دې امله دی يوازې په شرعياتو کې نه بلکې په عقلياتو کې هم امام و.

پايله!!!

نن ورځ چې کومو باطلو اديانو او افکارو سر راپورته کړی دی او په تدريجي توګه په مسلمانانو کې ورځ تر بلې خپرېږي او پلويان يې هم په زياتيدو دي؛ ستر لامل يې دباطل نه پيژندنه ده. باطل هيڅ کله په ښکاره بڼه نه پرمخ تللی او نه را څرګند شوی دی، باطل ټول وخت په اسلامي ټولنو کې دحق تر چيغه لاندې او دحق په جامه کې منګولې لګولې دي.

نن ورځ دپراخو وسائلو لکه مجلې، ويب پاڼې، سريالونه، ډرامې او نورو خپرونو له لارې مختلفو باطلو اديانو او افکارو ته دعوت روان دی او شپه ورځ د فکرونو د تخريب، د مسلمانانو دګمراهۍ او داسلامي امت د انحطاط په هڅه کې دي.نو موږ مسلمانان دې ته اړتيا لرو چې ټول معاصر باطل اديان، معاصر جاهليت، نظريات، افکار، او ګمرا او منحرفې ډلې په دقيقه توګه وپيژنو، ويې څيړو،سرچينې يې څرګندې کړو، موخې يې معلومې کړو، وسائل يې درک کړو، دمخنيوي او شنډولو هڅه يې وکړو او مسلمان ملتونه يې په خطر باندې له سره تر پايه خبر کړو، ترې ويې ژغورو او په خلاف يې را وپاروو.

# خوب باید څوک وکړي؟

مولوي وقايت الله (وقار)

دا ځينې په اصطلاح مصروف وګړي داسې دي، چې لږ هم د رخصتۍ نوم واوري؛ نو بيا له خوشالۍ په جامو کې نه ځايېږي او د دوی خوشالي ددې له پاره نه وي چې له رخصتۍ به څه ګټه واخلي او يا به يې بل چاته ګټه ورسېږي، بلکې د دوی خوشالي ددې په خاطر وي، چې له دغه فرصته د خپل آرام له پاره استفاده وکړي.

که څه هم چې آرام کول د انساني طبيعت غوښتنه ده او اسلامي شريعت هم د خپل روح په رڼا کې ويلي چې بايد له کار وروسته ارام تر سره شي؛ خو دلته پوښتنه داده چې آيا هر څوک څومره چې يې خوښه وي، ارام وکړي؟ او که نه دلته يو لړ معيارونه او اصول شته چې بايد په ارام کې هم مراعت شي؟

اسلامي شريعت د هر څه لپاره چوکاټونه ټاکلي دي، د اسلامي شريعت يوه ځانګړنه د شمول ده، ددې معنی داده چې اسلام د ژوند هرې برخې ته ځانګړې لارښوونې لري، خوب، ارام او استراحت هم د اسلامي احکامو يوه برخه ده او د اسلامي کتابتون يوه برخه يې نيولې ده.

دا به اسانه وي چې ووايو، فلانی دې يوه ورځ له خپل کال رخصت واخلي او دمه دې وکړي، په دې شرط چې په دمه کولو او يا رخصت اخيستلو باندې وارزي، دا هم آسانه ده چې وويل شي، فلانۍ اداره دې ټول په ټوله يوه ورځ رخصت شي، ځکه د کال په جريان او يا د خپل وجود له پيله تر ننه يې لاسته راوړنې ډېرې دي او د عامو ادارو لپاره يې ساري ده.

ټولنه له افرادو تشکيل ده او د افرادو پرمختګ د ټولنې تدريجي پرمختګ تضمينوي، دا نو په هيڅ صورت ممکنه نه ده چې مونږ دې په يو دم ټوله ټولنه کې پرمختګ راولو، بلکې ددې لار د نن او پرون له تاريخه همدا معلومېږي چې له يو يو کس به شروع کوې او بيا به ګام په ګام ټولنه تغييرېږي.

لکه څنګه چې له تندې پرته اوبه څښل بې معنی دي او هغسې خوند ترې انسان نه شي اخيستلی، څنګه چې د تندې پر وخت اخلي، کله چې انسان ډېر تږی شي، د اوبو خوند هماغومره زيات وي، ددې د ثبوت يو ښه اړخ په ټکنده غرمه کې له کروندګر وپوښتئ چې د اوړي په ورځ کې يې ټوله ورځ کرونده کړې وي او بيا نو ناڅاپه په اوبو ور برابر شي او يا هم د روژه ماتي پر وخت چې کله روژه په اوړي کې وي او د ورځې په جريان کې آرام ناست نه وي، بلکې له مسؤليتونو او منډو ترړو ډکه ورځ دې تېره کړې وي.

د خوراک ارزښت او خوند هم هغه وخت ډېر وي چې انسان ښه ډېر وږی شي او بيا نو چې د لوږې پر وخت يو وږی انسان له نيمه پياز او ډوډۍ څنګه خوند اخلي، د عصر تر ټولو شتمن يې له خپلې تر ټولو باتکلفه مېلمستيا څخه نه شي اخيستلی، دا ځکه چې د زمانې بډای ډوډۍ له مستۍ څخه کړې ده، مګر دغه بل نېستمن له نيستۍ څخه وچې ډوډۍ او پيازو ته مخه کړې ده.

دا د خوراک او څښاک اړوند خبره ده، خوب هم همداسې دی او که ور او ناوړ خلک يې تعيين نه شي ټولنه به له پاشلتيا رنځ واخلي، که يو څوک يو لېتر اوبو ته اړتيا لري او په يوه وخت کې ورته څو لېتره اوبه ورکړل شي، يا يو څوک يوې ډوډۍ او څه عادي خوړو ته اړتيا لري او هغه باندې زور وکړل شي، درې څلور ډوډۍ او قوي خوراک پرې وخوړل شي، په دواړو صورتونو کې ممکنه ده چې ددغه کس بدن او روان له ناروغۍ سره مخ شي، دغسې خوب هم دی.

هغوی چې په ژوند کې يې واقعا لاسته راوړنې کړې دي، خپل مسؤليتونه يې پېژندلي او د هغې د لاسته راوړلو لپاره يې شپه او ورځ هڅه کړې ده، د مخلوق او خالق تعالی حقوق يې تر پښو لاندې کړې نه دي، دين او هېواد ته يې خدمتونه کړي دي او په دې ډګر کې په پرله پسې توګه ستړي شوي دي، يقينا چې دمې ته ضرورت لري او په کار ده چې «خوب» ته پرېښودل شي، برابره خبره ده چې دغه خوب يې له هرې ورځې وروسته په راتلونکې شپه کې وي چې موقتي دی او که نه د مرګ په نوم سره له ژوند وروسته وي چې تر مخکنې خوب يو څه دايمي دی، دا ځکه چې دوی ستړي شوي دي او تر پوره ستړيا وروسته نو خوب خوند هم لري او کله چې انسان په ويښه، په ورځ او ټول ژوند کې افتخارات لاسته راوړي وي، بيا نو يې خوب هم يو ډول افتخار ګڼل کېږي. خو که يو ملت او امت داسې وي چې له خپل اصلي مسؤليته يې لاس اخيستی وي، د خالق تعالی او مخلوق د حقوقو په ماتولو کې نوم لري او هسې يو کالبوت پاتې وي، کوم تشخص نه لري، دغسې ملت او امت ته بيا خوب حرام دی، دوی که د انساني ضرورت په اساس تر ورځې وروسته د شپې څه برخه دمه اخلي، وادې يې خلي، مګر په دې بايد باوري شي چې دغه دمه يې هم تر سوال لاندې ده او دا ځکه چې دوی پرله پسې کار ته اړتيا لري، داسې کار چې د څو شپېو دمه هم بايد پکې نه وي او «خوب» خو بيا د څو شپېو نه، بلکې د څو ساعتونو دمه ده.

# ابوموسی اشعري ته د حضرت عمر لیک!

نور الحق مظهري

**عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته ـ چې د بصرې والي وو ـ وليکل:** خلک د خپلو باچاهانو څخه بد وړي نو په الله باندې پناه غواړم د ځان او ستا لپاره د نا څرګندې رونډتيا او اخيستل سوو کرکو څخه؛ د الله تعالی حدود عملي کړه که څه هم د ورځې د يو کړي لپاره وي، کله چې تا ته دوه کاره وړاندې سي چې يو د الله لپاره وي او بل د دنيا لپاره وي؛ نو ته د الله تعالی څخه خپله برخه غوره کړه ځکه دنيا ورانيږي خو آخرت پاتيږي، د فاسقانو څخه و وېرېږه او دوی لاس لاس او پښې پښې کړه، د مسلمانانو پر ناروغ پوښتنه وکړه، د مسلمانانو جنازو ته ولاړ سه، خپله دروازه د مسلمانانو پر مخ خلاصه کړه، د مسلمانانو کارونه خپله کوه ځکه ته ددوی څخه يو فرد يې مګر دا چې الله تعالی تر دوی ستا بار درون کړی دی، ما ته خبر را رسېدلی دی چې ستا او ستا د کورنۍ لپاره په کالو، خوړو او سورليو کې ځانګړې هيأت ښکاره سوی هغه چې د نورو مسلمانانو لپاره نسته؛ نو ای د الله بنده! ځان دداسې حالت څخه وساته چې ته د هغه حيوان په څېر سې چې پر آبادي شېلې تېرېږي خو غم يې يوائې چاغوالی او اوبه وي سره ددې چې په چاغوالي کې يې مرګ دی، پوه سه چې کله مشر د حق څخه انحراف وکړي دده رعيت هم انحراف کوي او تر ټولو بدبخته انسان هغه دی چې دده رعيت دده په خاطر بدبخته سي.[المجالسة وجواهرالعلم١١٩٨]

**د ليک مهم ټکي:**

١ - حضرت عمر رضي الله عنه په الله تعالی باندې د ځان او ابوموسی اشعري رضي الله عنه لپاره د ناڅرګند رونډوالي او اخيستل سوي کرکې څخه پناه غواړي؛ ځکه کوم څوک چې په ناڅرګند رونډوالي باندې اخته سي هغه بيا هيڅ حق نسي ليدلای او څوک چې په کرکه او کينه باندې اخته سي هغه بيا هيڅوخت د هيچا لپاره خيرخواه نسي جوړېدلای. په ځانګړې توګه مشران بايد ددغه دوو ناوړه صفتونو څخه ځانونه وساتي.

٢ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته د الهي حدودو د جاري کولو سپارښتنه کوي که څه هم د ډېر لږ وخت لپاره وي ځکه چې د حدودو په جاري کولو سره عدالت او نظم را منځ ته کيږي.

٣ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته وايي: کله چې ته د داسي دوو کارونو تر منځ راسې چې يو د الله لپاره وي او هغه بل د دنيا لپاره وي نو هغه د الله تعالی کار ته د دنيا تر کار ترجيح ورکړه ځکه د دنيا کار د فاني دنيا لپاره وي خو د الله تعالی کار د پاته کېدونکي آخرت لپاره وي.

٤ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته وايي: د فاسقانو سره ډېر احتياط کوه، ملګرتيا مه ورسره کوه او دوی ته د فساد او بغاوت وخت مه ورکو ځکه فاسقان تل د اسلامي نظام نړولو ته کار کوي.

٥ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته وايي: د مسلمانانو پر ناروغانو پوښتنه وکړه؛ ځکه پر ناروغانو باندې د مشرانو پوښتنه کول مسلمانان خوشحاله کوي او د خپلو مشرانو اطاعت ته هڅول کيږي.

٦ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعری رضي الله عنه ته وايي: د مسلمانانو په جنازو کي ګډون وکړه؛ ځکه د مسلمانانو په جنازو کي د مشرانو ګډون د مسلمانانو د سکون او آرامۍ سبب جوړيږي او پر مشرانو يې نور هم باور ټينګيږي.

٧ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته وايي: د مسلمانانو کارونه خپله کوه؛ يعني د مسلمانانو په کارونو کي ډېر جدي اوسه او نورو کسانو ته يې مه پرېږده ځکه ممکن نور کسان يې ونکړي چې بيا ولس درڅخه خوابدی کيږي او ستا څخه واټن پيدا کوي.

٨ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته وايي: خپلې دروازې د ولس پر مخ پرانيستې پرېږده تر څو په آسانۍ ستا سره ملاقات وکړي او خپلې ستونزې ژر تر ژر تا پوري دررسوي؛ ځکه که د مسلمانانو ستونزي تر تا پوري و نه رسيږي نو ته يې په حال نه خبريږي چې په نتيجه کي د مسلمانانو مشکلات نسي آوارولای. ددې څخه داسي ښکاري چې تل خپل پر ساتونکو او باډيګارډانو باندي باور مکوه چې هغوی د ځان او ولس تر مينځ واسطه جوړوې ځکه ددې امکان سته چې هغوی دي په وظيفه کي ناغېړي وکړي او د نورو مسلمانانو ږغونه دي تر تا پوري را و نه رسوي.

٩ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته وايي: ځان ته تر نورو مسلمانانو امتيازات مه ځانګړي کوه چې ستا کالي د نورو مسلمانانو د کاليو سره توپير ولري، ستا خواړه د نورو مسلمانانو د خوړو سره توپير ولري او ستا سورلي د نورو مسلمانانو د سورليو سره توپير ولري يعني چې ستا کالي، خواړه او سورلي دي د نورو مسلمانانو تر کاليو، خوړو او سورليو بهتره وي؛ ځکه دداسي کار په کولو سره د حاکم او رعيت تر منځ واټن پيدا کيږي او ددې تر څنګ چې ولس د ځان لپاره د حقارت احساس کوي پر خپلو مشرانو يې ګمان بديږي.

١٠ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته وايي: د حق څخه انحراف مکوه ځکه چې کله مشر انحراف وکړي ولس او خلک هم ورسره انحراف کوي چې په نتيجه کي فساد ورڅخه پيدا کيږي.

١١ - حضرت عمر رضي الله عنه ابوموسی اشعري رضي الله عنه ته آخري خبره دا کوي چې د خپل رعيت او ولس د بدبختۍ سبب مه جوړيږه ځکه تر ټولو بدبخته مشر هغه دی چې خلک دده په سبب بدبخه او ګمراه سي.

# د «هري» اعتراف؛ ګیله له چا پکار ده؟!

س. سعید غلجی

ورمه ورځ راپورونه خپاره شول چي د انګلستان یو پوځي شهزاده «هري» په تازه اعتراف کي ویلي، چي ما په خپل لاس (۲۵) افغانـان وژلي او د افغانانو وژل داسـې راته ښکاري لکه د شطرنج لوبه.

د «هري» اعتراف د ډېرو خلکو غبرګونونه راوپارول، خو دا اعتراف هیڅکله د تعجب وړ نه دی، ځکه چي «هري» زموږ دښـمن دی او له دښـمن څخه ګیله نه وي پکار. هغه هم داسـې ناوړه دښمن چي د انسانیت په نوم هیڅ نه پېژني او د پلرونو او نیکونو د وحشـت تاریخ یې هم راته معلوم دی، نو له داسـې دښمن څخه بل د څه تمه کېدای شي؟!

هو! دا یوازې «هري» نه دی، بلکې د ده په څېر په لسګونو زره صلیبي پوځیان دلته جنګېدلي، دا یې د یوه داسـتان دی، نور یې خپلـه قیاس کړئ، چـې صلیبیانو به دلته څومره وحشتونه کړي وي؟!

البته؛ که څوک دا اعتراض کوي، چي دښـمني خو باید د جګړې په میدان کې وشي، جنګیالي دې پر نښه شي، عوام، ښځې، ماشومان، سپین ږیري او پوره پوره کورنۍ ولې پر نښه کوي؟!

نو دا اعتراض به هم هغـه څوک کوي، چي د صلیبیانو تاریخ یې نه وي لوسـتی او د هغوی د وحشـتونو په اړه معلومات نه لـري، نو ځکه به دغه کیسـه ورته عجیبه ښـکاري، خو چاته چي د صلیبیانـو تاریخ معلوم وي، هغوی پوهېږي چي د دغې کیسې په نسبت؛ هغوی پخوا تر دې ډېر لوی لوی وحشتونه کړي.

صلیبیان دوه مخي دي، یو مـخ یې دا دی چي د بشري حقوقو، د ښـځو حقوقو، د ماشومانو حقوقو او په نورو نومونـو یې غولوونکې اداري جوړې کړې دي او ځان د عدالت دعوه دار ګڼي، دا یې هسې دوهمه څېره یا جعلي انځور دی، خو حقیقت یـې دا دی چي دوی د نړۍ پر هیڅ قانون نه دي برابر. دوی ماشـومان وژني، سـپین ږیري وژني، ښځې وژني، عوام وژني، پوره پوره کورنۍ بمباروي، په زندانونو کې له بندیانو سره غیر انساني چلند کوي او په بـې ځایه پلمو، بهانو پر اسـلامي هېوادونو یرغلونه کوي. خو د بشر حقوقو نړیواله محکمه د دې هر څه سیل کوي، هغوی فقط هغه وخت اعلامیه خپروي، کله چې یو مسلمان د خپل دین او وطن د دفاع لپاره توره پورته کړي.

نو د «هري» دغه تازه اعتراف د هغه د مېړانې دلیل نه شي کېدای، بلکې د هغوی د وحشتونو د ثبوت یو دلیل دی. که دوی ځان مېړنی دښمن بولي، نو شجاعت د جګړې په ډګر کې معلومېږي، د عوامو وژل کومه بهادري نه ده، بلکې د بې غیرتۍ وروستی حد دی.

دوی د عدالت او بشریت چغې وهي، خو همدا اعتراف یې حقیقت دی. بل طرف ته اسلام په ترهګري تعبیروي، حال دا چې په اسـلام کې یوازې د حربي کفارو د وژلو حکم شوی، موږ د دوی په څېر ماشومان، ښځې، سپین ږیـري او عوام نه وژنو. په اسـلام کـې جهاد هم خپل ځانګـړي اصول لري، موږ یوازې جګړه ماران وژنو او د شر او فساد ځالې ختموو.

رسول الله صلي الله علیه وسلم د خپل دعوت په (۲۳) کلنه موده کې اسـلام ته ډېر زیات رشـد ورکړ، تر ډېرو پراخو سیمو اسلام ورسېده او یو مستحکم اسلامي نظام یې رامنځ ته کړ، خو له دواړو طرفونو څخه د وژل شویو شمېر زر تنو ته نه رسېږي، مګر د صلیبیانو او نورو کفارو په بې هدفه نړیوالو جګړو کې په لسګونو میلیونو انسانانو ته مرګ ژوبله واوښته.

نو باید ټول مسـلمانان وروڼه د کفارو د وحشتونو تاریخ مطالعه کړي او د هغوی له اصلي څېرې او ناوړه دسیسو ځـان اګاه کړي، تر څو د هغـوی د جعلي او غولونکو شعارونو تر اغېز لاندې رانه شي.

په هر صورت؛ بریتانیوي پوځي «هري» پر خپلو وحشتونو اعتراف وکړ او موږ یې بیا فکر او سوچ ته وهڅولو، خو کاش چې فکر وکړو!

«هري» زموږ دښـمن دی، اخلاق او انسـانیت نه لري، زموږ عوام، ښځې، ماشومان او سپین ږیري یې هم وژل، د پلرونو او نیکونو د وحشتونو تاریخ یې هم رامعلوم دی، نو هیڅ ګیله نه ده ترې پکار او بله تمه نه شي ترې کېدای.

خو افسوس د هغوی پر حال؛ چې ځانونه یې تر هر چا ښه مسلمانان بلل، خو د همدغو وحشي صلیبي پوځیانو په صف کې ولاړ وو، مخکې او وروسته ترې روان وو، د دوی دفاع یې کوله، له دوی سره یو ځای زموږ پر کورونو رانوتل او موږ یې وژلو، شکنجه کولو او زنداني کولو.

افسـوس د هغوی پر حال؛ چې له لویـو لویو ږیرو او پګړیـو سره به یې د همدغو وحـشي صلیبیانو یرغل ته توجیهات لټول او د دوی هره پرېکړه به یې تأییدوله، خو مجاهدینو ته یې ترهګر ویل او د اعدام سـزا به یې ورته غوښته!

او افسـوس د هغوی پر حال؛ چې اوس هم د غفلت پر خوب ویده دي، اوس هم د کفـارو نارې ورسره بدرګه کوي او د اسـلامي نظام پر خلاف دسیسې جوړوي، ایا د «هري» او نورو صلیبي پوځیانو د وحشتونو داستانونه او اعترافونه مو هم نه رابیداروي؟! ایا اوس هم حقیقت درڅخه ورک دی؟!

# د اسلامي ټولنې د جوړښت لپاره د قرآن کریم (۱۰۰) اغېزناک پېغامونه

محمد علي عظمت / دریېمه برخه

۶۱ ـــ (اې رسـوله! خلکـو تـه) ووایـه چـې: پلیـت او پـاک څیزونـه (سـره) برابـر نـه دي. کـه څـه هـم د ناولیـو زیاتوالـی ښـه درتـه ښـکاره شـي، نـو اې د عقـل خاوندانـو! لـه اللـه جـل جلالـه څخـه ووېرېـږئ چـې بریالـي شـئ. مائـده/۱۰۰

۶۲ ـــ (او اې رسوله!) دوی تـه دا هـم ووایـه: «دا زمـا سـمه نېغـه لاره ده، پـه دې بانـدې روان شـئ او پـه نـورو لارو مـه ځـئ. کـه نـه د اللـه جـل جلالـه لـه لارې بـه واوړئ.

خلکـو! پـه دې خبـرو اللـه جـل جلالـه تاسـو تـه سپارښـتن کـوي. انعـام/۱۵۳

۶۳ ـــ د غلـه سـړي او غلـې ښـځې د دوی دواړو لاسـونه غـوڅ کـړئ، د دې لپـاره چـې دوی تـه د خپلـو کـړو بدلـه میـلاو شـي. دا د اللـه جـل جلالـه لـه لـوري عبرتناکـه سـزا ده. او اللـه جـل جلالـه د قـدرت خاونـد، د حکمـت څښـتن دی. مائـده/۳۸

۶۴ ـــ د ګناه او بې عدالتي خلاف هڅه و هاند:

او (اې مسـلمانانو!) لـه کافرانـو سـره تـر هغـه وجنګېـږئ، چـې فتنـه پاتـې نشـي او ټـول دیـن د اللـه جـل جلالـه لپـاره شـي. بیـا کـه دوی ایسـار شـي، نـو اللـه جـل جلالـه د دوی عملونـه ښـه وینـي.

۶۵ ـــ پـر تاسـو بانـدې مـردار شـوی (څـاروی)، وینـه، د خنزیـر غوښـه، (همدارنګـه) هغـه څـه چـې د اللـه جـل جلالـه لـه نومـه پرتـه د بـل څـه نـوم پـرې ویـل شـوي وي، خپـه شـوې او ... حـرام دي. مائـده/۳

۶۶ ـــ اې مؤمنانـو! شـراب، قمـار، د غیراللـه عبادتځایونـه او د فـال غشـي؛ دا ټـول پلیـت او د شـیطان کار دی. نـو لـه دې څخـه ځـان وسـاتئ، څـو بریالـي شـئ. مائـده/۹۰

۶۷ ـــ ... او له قماره ځانونه وسـاتئ... مائده/۹۰

۶۸ ـــ اې مؤمنانـو! لـه اللـه جـل جلالـه څخـه وډار شـئ او نېغـه رښـتیا خبـره کـوئ. احـزاب/۷۰

۶۹ ـــ تباهـي ده، د هغـه شـخص لپـاره چـې پسـې شـا عیـب لګوونکـی (او) پـه خولـه د پېغـور عـادي وي. همـزه/۱

۷۰ ـــ اې د ادم علیـه السـلام زامنـو او لورګانـو! کلـه چـې تاسـو جومـات تـه راځـئ، نـو د خپلـې ښـکلا سـامان (جامـې واغونـدئ) او راشـئ. اعـراف/۳۱

۷۱ ـــ او خـورئ، او څښـئ او بـې ځایـه لګښـت مـه کـوئ. یـاد لـرئ چـې اللـه جـل جلالـه بـې ځایـه لګښـت کوونکـي نـه خوښـوي. اعـراف/۳۱

۷۲ ـــ او کـه لـه مشـرکانو څخـه کـوم یـوه لـه تـا پنـاه وغوښـتله، نـو هغـه تـه تـر هغـه مهالـه پنـاه ورکـړه، څـو هغـه د اللـه جـل جلالـه کلام واوري، بیـا هغـه د ده د امـن ځـای تـه ورسـوه. توبـه/۶

۷۳ ـــ اللـه جـل جلالـه پاکـي غـوره کوونکـي خوښـوي. توبـه/۱۰۸

۷۴ ـــ پـه هغـو خلکـو کـې مـه شـاملېږه چـې ناهیلـي کیـږي. ابراهیـم علیـه السـلام وویـل: «د خپـل رب جـل جلالـه لـه رحمتـه لـه ګمراهانـو پرتـه نـور څـوک نـه ناهیلـي کېـدای شـي؟» حجـر/۵۶/۵۵

۷۵ ـــ اللـه جـل جلالـه د توبـې قبلولـو ذمـه واري د هغـو کسـانو لپـاره کـړې چـې پـه ناپوهـۍ سـره څـه نـاوړه کار تـرې وشـي، بیـا ژر توبـه وباسـي، نـو اللـه جـل جلالـه د دوی توبـه قبلـوي. او اللـه جـل جلالـه پـه هـره خبـره ښـه پـوه هـم دی، د حکمـت والا هـم دی. نسـاء/۱۷

۷۶ ـــ د خپـل رب د لارې لـور تـه خلـک پـه حکمـت سـره او پـه ښـه اسـلوب پـه نصیحـت کولـو سـره راوبولـه. او (کـه د بحـث وار راورسـېده نـو) لـه دوی سـره بحـث هـم پـه داسـې طریقـه وکـړه، چـې غـوره وي. نحـل/۱۲۵

۷۷ ـــ او هیـڅ پېټـی وړونکـی بـه د بـل پېټـی نـه وړي. او پـه چـا بانـدې چـې لـوی پېټـی بـار کـړی شـوی وي، کـه بـل چـا تـه د هغـه د پورتـه کولـو بلنـه ورکـړل شـي، نـو لـه هغـه څخـه بـه هیـڅ هـم نشـي پورتـه کولـی. فاطـر/۱۸

۷۸ ـــ او خپـل اولاد د نېسـتۍ لـه ډاره مـه وژنـئ. مونـږ هغـوی تـه هـم روزي ورکـوو او تاسـو تـه هـم. بـاور وکـړئ، د هغـوی وژل سـتره غلطـي ده. بنـي اسـرائیل/۳۱

۷۹ ـــ او د کومـې خبـرې چـې تـا تـه یقیـن نـه وي (د هغـې رښـتیا ګڼلـو سـره) پـه هغـه پسـې مـه ځـه. بـاور وکـړئ، چـې د غـوږ، سـترګې او زړه پـه اړه (لـه تاسـو څخـه) پوښـتنه کیـږي. بنـي اسـرائیل/۳۶

# اسلام نړیوال دین دی!

فرید احمد «مبارز»

اسـلام په لغت کي غاړه ایښودلو او تسلیمیدو ته وایي او پـه اصطلاح کي د الله (جل جلالـه) احکامو او اوامرو ته غاړه ایښـودل، هغه منل او عملي کول عبارت د اسلام څخه دي.

په قرآن کي الله سـبحانه وتعالی فرمایي: بیشـکه! د الله (جل جلاله) په نزد یوازینی غوره دین اسـلام دی.

که د اسـلام څخه مخکي دینو تـه پاملرنه وکړو، هر دین به پـه خپل وخت کي د یـو خاص قوم او سـیمي لپاره راتلی.

د مثال پـه توګه: حضرت صالح (علیه السـلام) د ثمود قوم لپاره راسـتول سوی وو، حضرت هود (علیه السلام) د عاد قوم لپاره راستول سـوی وو، حضرت عیسی (علیه السـلام) د بنی اسـرائیلو لپاره راغلـی وو، او حضرت یوسـف (علیه السـلام) د مصر د خلکو لپاره راغلی وو، او که چیري به په یوه سـیمه کي پیغمبر نه وو، نو د نزدې سـیمي د پیغمبر په اطاعت به خلک مکلف وه.

مګر اسـلام یو نړیـوال او بین المللی دین دی، اسـلام په کوم خاص قوم او یا کومي خاصي سـیمي پوري تړاو نه لري. اسـلام وروستی آسـماني دین دی، چي تر دې وروسـته دې نړۍ ته بل کوم دین نه راځي، نه کوم پیغمبر او نه کوم کتاب راځي.

نو له همدې ځای څخه د اسـلام سـتر پیغمبر حضرت محمد (صلی الله علیه وسـلم) نړیوال پیغمبر او د ټولي نړۍ د خلکو سـتر لارښود او رهبر دی.

د اسلام د راتلو سـره ټول پخواني دینونه منسوخ سول، د نړۍ مـروج مذهبونه لغوه او باطل اعلان سـول، مګر ددې وړانـدې دینونـو دا ځانګړتیا نه درلـوده، یو د بل لپاره به ناسـخ نه ګرځیدی، بلکي یو د بـل لپاره تکمیل کوونکـی وو، لکـه د حضرت عیسـی (علیه السـلام) کتـاب انجیل چي د حضرت موسـی (علیه السـلام) د کتاب تکمله ده.

د بله اړخه که فکر وکړو اسـلام د وخت یوازینی غالب، مکمل دین او نظام دی.

# شعر و ادب

## شاهزاده «هري» ته!

محمد هاشم ذاکر

ای د وحشتونو پلاره تاسره حساب لرو
دوه اودرې خو نه دي ستا د ظلم ډک کتاب لرو
ته به یې شطرنج بولې خو هر پرهر قیمت لري
هېر مو ندي وخت ګورو د هر ګوزار ځواب لرو
یو ته نه وې ډېر سر زوري راغلو زموږ خوړلو ته
مونږ د (هري) غوندې پوروړي ډېرکلاب لرو
سترو کړاوونو سرو اورونو کې لوی شوي یو
مونږ لکه سندان څو وهل کېږو دومره تاب لرو
تا د میکناټن د مرګ کیسې لکه چې هېرې دي
مونږ خو د ننګونو په تاریخ کې زرین باب لرو
ورشه د نیکونو خاطرو ته دې لږ وګوره
تا ته د میوند ترخې صحنې د انقلاب لرو
دوی به خود شرمېږي چې هم مات شول هم بې آبه شول
مونږ ذاکره شکر هم میدان وړی، هم آب لرو

## کَوني علوم

صبغت

د یعقوب پر خـــپل یې دا سـتر امتـنان و
انبیاء هـــم په دنیا کـــې پاچاهـان وو
وې د زمکـــې خزانـــې ورته معلومې
د توحید د حـــق داعي بیا په زنـدان و
د قحطي په مدیریـت کـې ښـه دانـا و
دا سـتـــر خیر یې رسیـدلـی تر کـنعان و
زموږ دین کـې رهبانیت ګـورئ رد شـوی
رهبــران او قائدین مـوږ د جهـان وو
که مباح هـــم وي خو نه مـو ترې رغـېږي
که موږ غواړو چـې اعداد کـې مخکښان و
ژبې زده کـړئ او کَوْني علـوم پاخه کـړئ
کائنات کـړئ مسخر، څو مو چـې توان و
د حدیثو ذخیره کې مو هم طب شته هـم کرنه
ستونزه موږ کې وه چې بله خـــوا روان وو
خوار صبغت دې نه د دین نه د سـادین شو
پخواني ښـه وو د دواړو عالمـــان وو

## ټکـــرى!

حنیفه (زاهد)

که عـنعنه ده که پـرده ده ټکـــری
ګوره پر سر مي ښایسته ده ټکـــری
په درنه نه یم خو درنه ښــکاریږم
زما عادت زما پېـشه ده ټکـــری
دبـدو سـترګو دبخـرو مخـته
هري ګرمۍ ته مي سایه ده ټکـــری
ته په شمله کي پت عـزت یادوي
زما عزت لکه شمـله ده ټکـــری
که لوپټه که په پـــړوني یاد شي
دپت ښتو مي نښـانه ده ټکـــری
لـکه په پانو چي ډنـدر پټېږي
پرتن مي ښه زرغـونه ده ټکـــری
زاهده! خوندي دي سرتوري مه شه
هم ئي خیمه هم ئي ګېڼه ده ټکـــری

## د زابل عامې روغتیا ریاست سره د درملو ...

چې ور سره به د روغتیا په برخه کې شته ستونزې تر یوه حده حل شي.
نوموړې دغه راز د یونیسف موسسې له همکارۍ څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې دغه موسسې ورسره تل د روغتیا په برخه کې مرسته کړې ده.

## کندز کې نږدې ۲ زره جریبه دولتي ...

چې په علي آباد ولسوالۍ کې یې ۱۹۰۰ جریبه ځمکه له غصب څخه خلاصه کړې ده.
مولوي حسن زیاتوي، چې په دغه ولسوالۍ کې ۹ زره جریبه ځمکه غصب شوې، چې له دې جملې څخه یې ۱۹۰۰ جریبه له غصب خلاصه شوه او پاتې نوره به هم له غصب څخه خلاصه کړي.
د نوموړي په خبره، د دغه ولایت په ښار او یو شمېر ولسوالیو کې د دولتي ځمکو د غصب د مخنیوي کمېسیون څه باندې ۶۰ زره جریبه دولتي ځمکه له غاصبینو بېرته نیولې او په دغه ولایت کې د پاتې غصب شویو ځمکو د بېرته ستنولو لپاره هڅې روانې دي.

## د هېواد په څلورو ولایتونو کې ۱۶ تنه ...

د قتل په تور او بلخ کې ۹ تنه د جوارګرۍ او اخلاقي فساد په تور نیول شوي دي.
د مسوولینو په وینا، د نیول شویو کسانو دوسیې به له څېړنو وروسته عدلي او قضایي ارګانونو ته وسپارل شي.

## در یک هفته، نزدیک به یک میلیون افغانی ...

هفته گذشته، تجزیه کرده است که در نتیجه، هفت نمونه آن منفی بوده و هفت نمونه دیگر آن نظر به دلایل مختلف مسترد شده است.
از درک تجزیه نمونه‌های یاد شده، نه صدوهفتاد و سه هزار و سه صدو سی و یک افغانی، به حساب دولت واریز شده است.
این در حالیست که پیش از این نیز، ادارهٔ ملی غذا و دارو ، از درک تجزیه چهار هزار و نه صدو چهل وسه نمونه ادویه، مواد غذایی و آب؛ از واریز شدن بیش از سه میلیون و هفت صد و چهل و سه هزار افغانی در یک‌ماه گذشته، به حساب دولت خبر داده بود.

## نورستان کې یو روغتیایي مرکز ګټې ...

کې د District hospital روغتیایي مرکز جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د یادونې وړ ده، چې له دې مخکې په یاده ولسوالۍ کې معیاري روغتیایي خدمتونو شتون نه درلود، او خلکو یې خپل ناروغان نورو ولایتونو ته د درملنې په موخه وړل.

## خطر فروپاشی منار پنجم هرات ۷۵ درصد ...

همچنان جریان دارد. مولانا نعیم الحق حقانی، رئیس اطلاعات و فرهنگ هرات در دیدار، از کار منار پنجم می گوید که در حال حاضر ۷۵ درصد نگرانی از خطر فروپاشی آن بر طرف شده است و بعد از تکمیلی فاز سوم راست خواهد شد.
رئیس اطلاعات و فرهنگ بیان می کند که ۸۰ درصد کار فاز اول این پروژهٔ عظیم تکمیل شده است و به زودی کار فاز دوم آن نیز آغاز می‌شود.
حقانی علاوه کرد که در فاز اول استحکامات زیر بنایی تقویت و با استناد دیواره معیاری، کمربندهای ایمنی منار با موفقیت در حال بسته شدن است.
گفتنی است کار منار پنجم هشت ماه قبل آغاز گردید و از آن زمان روزانه تا نود نفر روی استحکام آن بدون وقفه کار می کند.

## همکاری قزاقستان در بخش مخابرات ...

با بختیار سرسینبای سفیر قزاقستان در کابل، دیدار کرد.
در این دیدار دو طرف روی گسترش خدمات مخابراتی در افغانستان، افزایش ظرفیت انجنیران افغانی و حل مشکلات انترنت تاکید کرد.
در این دیدار، سفیر قزاقستان اظهار داشت: شرکت‌های مخابراتی معتبر کشورش را تشویق خواهند کرد، تا با بخش مخابرات در افغانستان کمک کنند و تجارب شان به افغانستان انتقال دهند.
او گفت که افغانستان از نظر امنیت کشور امن و مناسب برای سرمایه گذاری است.
مولوی نجیب‌الله حقانی سرپرست وزارت مخابرات و تکنالوژی معلوماتی گفت: شرایط فعلی افغانستان و موقعیت راهبردی این کشور، برای کشورهای منطقه و به ویژه آسیای مرکزی و جنوب آسیا، از نظر ترانزیت اینترنتی مهم خواند و گفت که این کشور می توانند، از این موقعیت افغانستان استفاده کنند.
علی احمد سمند رئیس افغان تلی کام، از سفیر قزاقستان خواست، تا چند انجنیر افغان را در زمینهٔ مخابرات آموزش داده و تجربیات خود را در اختیار آنها قرار دهند.

## نړۍ په خپلو درواغجنو تبلیغاتو ...

کې خلیل الرحمن حقاني راغلي پلاوي ته د ښه راغلاست وروسته وویل، چې نړیوال غوارې په خپلو پوچو تبلیغاتو خلکو ته د اسلامي امارت انځور غلط وښیي او دا د دیني عالمانو وجیبه ده، چې راشي اسلامي نظام له نږدې ووینې او خپلو ولسونو ته د اسلامي امارت حقیقي تصویر وړاندې کړي.
حقاني زیاته کړه، افغانستان د نړۍ یو له هغه هېوادونو څخه دی، چې تر ټولو زیات کډوال، معیوبین، کونډې او یتیمان لري او موږ د اسلامي نړۍ له دیني عالمانو تمه لرو، چې د دوی په ستونزو او پالنه کې له موږ سره همکاري وکړي.

## د توریستي او زیارتي شرکتونو ستونزو ته ...

پروسه کې د شفافیت رامنځته کولو او د مالیاتي فرار مخنیوي په اړه خپلې ستونزې او وړاندیزونه بیان کړل.
د ریاست الوزرا د دفتر عمومي رئیس ډاکټر ملا عبدالواسع له خلکو په ځانګړي ډول خصوصي سکتور سره د دې ډول کتنو موخه د اسلامي امارت او خصوصي سکتور ترمنځ د اړیکو پیاوړتیا، ستونزو ته لاسرسی او د غوره کاري فضا رامنځته کول وبلل.
نوموړي زیاته کړه، چې د یوه منظم چوکاټ له لارې به شته ستونزو ته ګډه حل لاره ولټول شي، ترڅو معتمرینو او سیلانیانو ته لا ډېرې اسانتیاوې برابرې شي.
نوموړې د دوی له وړاندیزونو څخه په مننې زیاته کړه، چې د تعقیب لپاره به په راتلونکې کې نورې غونډې هم ولرو او اوسني وړاندیزونه او غوښتنې به له اړوندو مسوولینو سره شریکې شي.

## یک کانال به هزینهٔ ۱۵ میلیون افغانی در بلخ ...

یک متر و ۴۰ سانتی در مدت پنج ماه ساخته شده است. در خبرنامه آمده است که این کانال، به هزینهٔ پانزده میلیون افغانی به حمایت مالی ادارهٔ انکشافی سازمان ملل و توسط کمیتهٔ سویدن برای افغانستان تطبیق شده‌است.

## شاروالی کابل صدها هزار نهال و گل بته ...

از قبیل مرسل، جیری بند و دیگر گل های زینتی است که به شکل معیاری در خانه های سبز و قوریه های مربوط ریاست سرسبزی شاروالی کابل در حال رشد و پرورش اند. او گفت که ریاست سرسبزی شاروالی کابل، اخیراً بیش ازبیست گرین هاوس، گلخانه و قوریه را در پارک های متعدد ایجاد کرده است که این امر باعث شد، تا تولید نهال ها و گل ها افزایش یابد.

## چگونگی ساخت «پارک شهر» در ناحیه سوم شهر ...

که مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء طبق وظیفهٔ که از سوی کابینهٔ امارت اسلامی به ایشان سپرده شده است، چگونگی اعمار این دو مکان را بررسی می‌کند.
در جریان این بررسی٬ مولوی شمس الدین شریعتی لوی څارنوال، مولوی سعدالدین سعید معین وزارت اطلاعات و فرهنگ، نمایندهٔ وزارت امربالمعروف و نهی عن المنکر و سمع شکایات، نمایندهٔ ادارهٔ امور و نمایندهٔ شاروالی کابل، حضور داشتند.
مولوی عبدالسلام حنفی معاون اداری ریاست الوزراء موضوع ساخت تانک تیل و تأسیسات غیراصولی را که در پیاده رو و حریم دریای کابل اعمار شده است، مورد بررسی قرار داده و تصامیم لازم را در زمینه اتخاذ کردند.

## تثبیت صدها جریب زمین غصب شده در ولایت‌های ...

حضرت سلطان غصب شده، تثبیت کرد.
در خبرنامه همچنان آمده است که هیأت تخنیکی واپس گیری زمین‌های غصب‌شده٬ دو صد و پانزده جریب زمین را در مربوطات ولسوالی کوهبند کاپیسا نیز تثبیت نموده است.

## تا کنون بیش از بیست و چهار هزار گدا از ...

خبرنامه می افزاید، از میان این گداها، دو هزار و نه صدوچهل وهفت تن آن مردان استند که پس از ارزیابی یک‌هزار و هفتاد و دو تن آنان مستحق و یک‌هزار و هشت صد و هفتاد و پنج تن دیگر شان گداهای حرفه‌یی تشخیص گردیدند. هم‌چنان، در میان گداهای جمع‌آوری شده، نه هزار و هفت صدوبیست وهفت کودک نیز شامل است که سه هزار و شش صدوسی وهفت تن آنان مستحق، شش‌هزار و بیست و دو تن گداهای حرفه‌یی و شصت وهشت تن دیگر شان بی‌سرپرست استند که کودکان بی‌سرپرست پس از بایومتریک به مراکز آموزشی وزارت کار و امور اجتماعی فرستاده می‌شوند.
در این مراکز، علاوه بر اعاشه به کودکان بی‌سرپرست زمینهٔ آموزش نیز برای شان فراهم‌می‌شود.
این در حالی است که جمعیت هلال احمر افغانی چندی قبل، روند توزیع کمک‌های نقدی به گداهای مستحق در شهر کابل را آغاز کرد که تا کنون صدها تن از این کمک‌ها مستفیدشده‌اند.
دراین برنامه برای هر عضو خانواده‌های گدا ماهانه‌دوهزار افغانی توزیع می‌شود.

## بلخ کې د ۵۰ میلیونو افغانیو په لګښت ...

څخه مننه وکړه او د نورو ملي او نړیوالو موسسو څخه یې وغوښتل، چې د ټولګټو پروژو د جوړونې او بیا رغونې په برخه کې د یادې ولسوالۍ له خلکوسره همکاري وکړي.
په همدې حال کې د C.H.A موسسې مسوول وویل، چې د دغو کانالونو په رغولو باندې ۵۰ میلیونه افغانۍ لګښت راغلی، چې چارې به یې د ۹ میاشتو په موده کې بشپړې شي.
د یادونې وړ ده، چې په یاده پروژه کې ۵۶۲ تنو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

## لغمان: ۴ دولتي ودانۍ ...

عمومي ریاست له لوري د ۱۴ میلیونو افغانیو په مالي لګښت په اساسي بڼه رغول کېږي چې چارې به یې د دوو میاشتو په موده کې بشپړې شي. د یادونې وړ ده، چې په دغو پروژو کې به ۴۰۰ کسانو ته د کار زمینه برابره شي.

## امنیت و آرامش افغانستان را بسیاری ...

آمر فرهنگ و گرځندوی ریاست اطلاعات و فرهنگ جوزجان می گوید که در این اواخر، بازدید سیاحان خارجی از ساحات باستانی، بنا های تاریخی، فرهنگی و آشنایی با عنعنات مردم جوزجان، بیشتر شده است.

## د پاکستان له زندانونو څه باندې ۳۰۰ افغانان ...

حیدرآباد له زندان څخه (۳۰۳) تنه افغانان چې (۶۳) زنانه او (۷۱) ماشومان پکې شامل دي؛ آزاد او خپل وطن ته په ۶ بسونو کې ولیږدول شول. خبرپاڼه زیاتوي، چې د لارې کرایه، خوراک، څښاک او پوښاک ټول مصارف د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت د لارښوونې سره سم د سفارت او قونسلګرۍ لخوا ورته اجرا شول.

## له کجکي بند څخه دې ترینکوټ ته برېښنا ...

د جوړولو، په چنارتو او چوره ولسوالیو کې د آغاجان او مني غار بندونو د جوړولو، په دهراود ولسوالۍ کې د تنګي بند د جوړولو، په خاص روزګان ولسوالۍ کې د سرتنګي او تور بندونو د جوړولو او روزګان کې اړوند کانالونو د سربندونو د رغولو وړاندیزونه شریک کړل.
ورته مهال، امیرالمؤمنین حفظه الله د یادو ټولو وړاندیزونو د منلو ترڅنګ تینګار وکړ، چې د آغاجان بند د جوړولو او د کجکي برېښنا بند څخه د روزګان مرکز، ترینکوټ ته دې د برېښنا رسولو پروژو ته لومړیتوب ورکړل شي.

## بهرنیو دیني علماؤ سره لیده کاته ...

به څرنګه په ژبه پوه شي. دغه راز دا ټکی هم په نظر کې نیول په کار دي چې دیني علماء پرته له شکه هر مسلمان هېواد کې لږ یا ډېر مخ او نفوذ لري او ښایي خپل خپل حکومتونه او ملتونه د افغانانو له موجوده وضعیته په ښه ډول خبر کړی شي. زموږ د هېواد رښتینی او واقعي وضعیت ځکه نن سبا ان له اسلامي پرګنو پټ پاتې دی چې د مغرضو هېوادو پروپاګندي رسنۍ لګیا دي شپه ورځ یوازې زموږ پر منفی خبرونو شخوند وهي او په لس ګونو ځله یې بیا بیا تکرار وي. پاتې شوه دا اندېښنه چې کېدی شي په دغه نامه هم د دښمن ځینې جاسوسان او مفسد کسان راشي، نو ځواب دادی چې باید له هغوی سره د مشرانو په ملاقاتونو کې پورتنۍ موضوع هم په نظر کې ونیول شي او مجالس داسې اداره شي چې د زیان د مخنیوي تدابیر پکې نیول شوي او د راغلو مېلمنو په هکله هم ړومبی لا د پېژند ګلوۍ څه ناڅه معلومات تر لاسه شوي وي. خو عموماً دا ډول احتمالات ډېر کمزوري معلومېږي. له بلې خوا دا هم شونې ده چې که د دغسې مېلمنو ښه درناوی او پالنه وشي، غالباً د نورو سیاسي، ټولنیزو او کارو باري اشخاصو د راتګ لړۍ هم چټکه او نړیوال په سمه او سیې توګه زموږ د هېواد له حالاتو خبر شي. لنډه دا چې موږ باید په هر صورت د اړیکو پر اخولو هڅه هاند وکړو ځکه ټولې نړۍ سره د پرېکون بیه خامخا ډېره درنه وي.

## د ژورنالیزم پوهنځی د تحصیلي نصاب د ...

نوموړي زیاته کړه چې په ټولو دینونو کې دروغ ویل حرام دي، خو اوسمهال ځینو رسنیو دغه کار خپل مسلک ګرځولی او د پروپاګند په وسیله د خلکو ذهنونه خرابوي.
سرچینې د یاد کلستر له ګډونوالو څخه غوښتنه وکړه، چې د محصلینو د مسلکي روزنې تر څنګ، فکري روزنې ته هم پاملرنه وکړي.
سرپرست وزیر په ژورنالېزم کې پر حقانیت، ریښتینولۍ او د ملي او اسلامي ارزښتونو په مراعاتولو ټینګار وکړ.
همدارنګه د لوړو زده کړو وزارت علمي معین دوکتور لطف الله خیرخواه ژورنالېزم د نني عصر مهم مسلک وباله او زیاته یې کړه چې رسنۍ د خلکو رواني حالت مثبت او منفي لور ته بیولای شي.

## ریاست معارف نورستان نزدیک...

در آیندهٔ نزدیک یک صدو پنجاه و سه هزار جلد کتب درسی دیگر نیز، به ریاست معارف نورستان، تحویل داده شود.

## پکتیا کې د اوبو رسونې او روغتیا ...

د اوبو زېرمه کولو ټانکۍ، ۱۸ د لاس مینځلو نلکۍ او ۱۲ بابه تشنابونو ترمیم شامل دي. د نوموړي په وینا، په یاده پروژه باندې ۹۲۷ زره افغانۍ لګښت راغلی دی.

## پیام‌های استفاده از تولیدات داخلی را به ...

تطبیق طرح حمایت از تولیدات داخلی برگزار گردید٬ شیرباز کمین‌زاده، رئیس اتاق صنایع و معادن افغانستان گفت: تقویت صنایع داخلی به معنی تقویت تجارت کشور نیز است و آنچه را که صنعت‌کاران تولید می‌کنند، مورد استفاده تجار ما قرار گرفته که باعث گردش سرمایه در کشور می‌شود.
وی هم‌چنان از کیفیت خوب تولیدات داخلی اطمینان داده٬ خواستار عقد قرارداد با اداره‌های دولتی شده است.
از سوی دیگر، عصمت وردک یکی از کارخانه داران فولاد گفته است: در سال‌های گذشته سالانه تا شش صد میلیون دالر جهت خرید آهن آلات به خارج از کشور می‌رفت، اما در حال حاضر یک «سنت» هم به خارج از کشور نمی‌رود، که این یک دست آورد بزرگ مسؤولان امارت اسلامی است. هم‌چنان، در این نشست، شفیق اسکندری یکی از تاجران، گفته است: اکنون محصولات و تولیدات افغانستان مثل «کاغذ بهیر» در بازارهای آسیای میانه از اعتبار خوبی برخوردار است و یک کیلو بادرنگ تولید شده در افغانستان در بازارهای قزاقستان تا چهار دالر به فروش می‌رسد. در همین‌حال سرپرست وزارت صنعت و تجارت، بر بلند رفتن کیفیت تولیدات داخلی تاکید کرده و گفته است که تمام اجناس از سوی این وزارت، مورد بررسی قرار می گیرد.
وی افزوده است: در صورتی که کیفیت اجناس مطابق به معیارها باشد؛ مورد تقدیر قرار خواهد گرفت، در غیر آن تولیدکنندگان محصولات بی کیفیت حمایت دولتی و مستهلکین را از دست خواهند داد.
عزیزی خاطر نشان کرده است که به خاطر ترویج فرهنگ استفاده از تولیدات‌داخلی، به تمام رسانه‌ها، امامان مساجد، استادان مکاتب و پوهنتون‌ها اطلاع داده می‌شود که به منظور خودکفایی کشور، پیام استفاده از تولیدات‌داخلی را به شهروندان کشور برسانند.
در اخیر این نشست، اشتراک‌کنندگان تعهد کرده اند که با بلند بردن کیفیت در تولیدات شان، توجه مردم افغانستان و بازارهای خارجی را، جلب خواهند کرد.

## افغاني سره میاشت د سوري زره ...

چې د سوري زړه په ناروغۍ د هر اخته ناروغ لګښت له ۲۱ زرو افغانیو تر ۷۵ زرو افغانیو پورې دي، چې د افغاني سرې میاشتې له لوري ورکول کېږي. د سرچینې په وینا، په روغتونونو کې د درملنې پر مهال د ناروغ او پایواز ټول لګښت هم د افغاني سرې میاشتې له لوري ورکول کېږي.

## د افغانیو د ارزښت د لاپیاوړتیا په موخه به ۱۷ ...

دغه بانک پرون د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره، په شرایطو برابر له ټولو صرافانو او تجارتي بانکونو څخه غوښتي چې په دغو داوطلبیو کې دې ګډون وکړي او د داوطلبۍ ګټونکي یې مکلف کړي چې خپل حسابونه دورځې تر پایه پورې تصفیه کړي. په خبرپاڼه کې دغه راز یادونه شوې ده چې د معاملو قسمي ترسره کول مجاز نه دي او د لیلام ګټونکي دې د خپل ذمت پیسې ټولې یوځای نغدې او یا هم په حوالې سره په ټاکلې موده کې په بانک کې تحویلې کړي.
په روانه اوونۍ کې دا دویم ځل دی چې د افغانستان بانک د افغانیو د ارزښت د لا پیاوړتیا په خاطر ډالر لیلاموي. دغه بانک (۱۵) میلیونه ډالره وپلورل.
دا په داسې حال کې ده چې د کابل شهزاده سرای پرون په بازار کې د یوه امریکایي ډالر پر وړاندې د (۶۰،۹۰) افغانیو د تبادلې خبر ورکړی دی.

